# اسلامي اقتصاد

## دين او اقتصاد :

- دين او اقتصاد يو لنه بل سره نه شليدونکي اړيکي لري او يو له بل سره نه جلا کيږي. بلکي اقتصاد د دين يوه برخه ده.
- **دين** معمولا دانسان دمعنوي اړخ سره سروکارلري او انسان او دامعنوي اړخ ترمنځ رابطه د انسان پر مادي اړخ هم تاثير اچوي، يعني ددين په ذريعه سره دانسان معنويت جوړيږي او داجامع معنويت ددي باعث کيږي چي انسان په مادي برخه کي داسي کارونه ترسره کړي چي هغه د دين داوامرو او احکامو څخه وي. يعني په مادي نړۍ کي دخپل دين د لارښوونو مطابق فعاليتونه ترسره کوي.
- نو هرکله چي دانسان فعاليتونه په مادي نړۍ کي دخاصو اوامرو په اساس کنترول وي هغه بايد د منعوي اصولو سره چي عبارت له دين څخه دی موافقت ولري.
- دين او اقتصاد يو له بل سره خپل منځي اړيکه لري او ډير داسي موارد شته چي دوی يو له بل سره وصل کړي،

## د دين يا مذهب رول په کوچني او لوی اقتصاد کي :

- **کوچنی اقتصاد:** په کوچني اقتصاد کې د عرضې او تقاضا په برخه کي ځيني خاص محدوديتونه واضح کوي لکه د حرامي غوښي خرخول او داسي نور. يعني کچيري په مارکيټ کي عرضه کيږي هغه بايد دحلالو اجناسو وي او همداشان په مارکيټ کي تقاضا هم بايد حلالو اجناسو او خدماتو ته وشي.
- **لوی اقتصاد:** په لوی اقتصاد کي د دين درول حکومتونو ته دمادي رفاه په برخه کي ورکړل شوی دی او هغه امرونه کوم چي په مادي نړی کې دخلکو اوټولني درفاه باعث کيږي بايد د دولت په لاس کي وي او دولت بايد دهغو لپاره کار وکړي دا امرونه دمثال په ډول دشريعت مقاصد( ددين ساتنه، دنفس ساتنه، دمال ساتنه، داولاد ساتنه، ) دشريعت دمقاصدو پلي کول دټولني او خلکو لپاره رفاه په وجود راوړي او دا په لوی اقتصاد کي د دين د رول نماينده گي کوي.

## د دين او اقتصاد په اړه غربي تجريبي او مفکوري:

دتاريخ په اوږدو کي د دين او اقتصاد تر منځ اړيکه دنو ساناتو سره مخ شوي ده يعني ځينو عالمانو اقتصاد د دين يوه برخه بلله او ځينو نورو بيا سره جلا کړي دي او اقتصاد د دين يوه برخه نه بولي.

1. **کارل مارکس (۱۸۱۸ –۱۸۸۳):** کارل مارکس چي دنولسمي پيړۍ فليسوف او اقتصاد پوه وو داسي نظريه درلوده چي دين او اقتصاد يو له بل سره اړيکه نلري او بايد يو له بل سره گډ نشي.

دکارل مارکس په وينا دين د ټولني او خلکو دمادي رفاه مانع دی او دهغه په وينا کچيري خلک دين ته مخه کوي نو دمادي رفاه څخه محرومه کيږي او په هغه سيمو کي چي دين تطبيق کيږي هلته مادي رفاه کمه تر سترگو کيږي .

دکارل مارکس په وینا کوم غربت او چې په هیوادونو کې موجود دی دا دین نتیجه ده.

**نوټ :** دا کفري او غربي نظريي دي او موږ يې دلته فقط د مقايسي لپاره يادونه کوو.

2. **ماکس ویبر (۱۸٦۴ – ۱۹۲۰) :** ماکس ویبر بیا د کارل مارکس دنظريې او مفکوري خلاف يو مذهبي او ديني عالم دی او وايي چې دين او اقتصاد يو له بل سره تکميلوونکي اړيکي لري يعني دين او اقتصاد يو له بله پرته نشي تکميل کيدای.

ماکس ويبر وايي چې دعقيدي او رفاه تر منځ اړيکه شتون لري يعني کچيري په هيوادونو کي د اقتصادي رفاه په اړه خبري کوو هغه په دين پوري اړه لري او کله چي د انسانانو عقيده سمه وي په هغو هيوادونو کي په اقتصادي رفاه هم ښه وي.

3. **Materialism:** د لادينيت (سيکولريزم) نظريه او مفکوره ده او دمرکزي صلاحيت (الهي صلاحيت) ضد فکر لري او دهغوی په وينا دين دهر چا خپل فکري ابتکار دی او ټول مرکزي صلاحيتونه د اقتصاد څخه جلا بولي.

- کچيري دين مرکزي صلاحيت وبلل شي او دولتي صلااحيت بيا شخصي صلاحيت وبلل شي نو د دوی دواړو تر منځ توپير ته دسيکولريزم مفکوره ويل کيږي، ددوی دنظريي په اساس دولت بايد دخپل فکر په اساس مرکزي صلاحيت لمنځه يوسي.
- دسيکولريزم تيوري دجان لاک او دهغه دملګرو له لوري داتلسمي پيړی په لومړيو کي رامنځته کړه. او هغوی داسي نظريه هم درلودل چي دولتونه بايد په کارونو او صلاحيتونو کې دخپل فکر څخه کار واخلي او دمقدسو (ديني ) صلاحيتونو مخه بايد ونيسي.

4. **Utilitarianism (مطلوبيت):**

**مطلوبيت:** په يو اقتصادي سيستم کي هغه حالت ته ويل کيږي چي په هغه کي څنګه داقتصادي واحدونو له لوري رضايت او مطلوبيت ترلاسه کيږي. يعني په يو اقتصادي سيستم کي داقتصادي واحدونو له لوري درضايت او مطلوبيت تر لاسه کولو ته ويل کيږي.

- د دي نظريي په اساس مطلوبيت دخوشحالي او خپګان په ډول سره اندازه کيږي پر ده تيوری او نظريي باندي دځينو نورو غربيانو لکه دجان ستوارت ميل انتقاد دادی چي دا نظريه دسيکولريزم دفکر پر اساس تشريح سوي ده يعني دين او مطلوبيت يو له بل سره جلا سوي دي په داسي حال کي چي جان ستوارت ميل بيا مطلوبيت د دين يوه برخه بولي.

**(ماديت پرستي):** ددي نظريي پلويان داسي نظر لري چې نړی يوازي مادي اړخ لري او هر څه مادي بولي.

- **د دوی دنظريي په اساس** هر څه يعني ماده هغه په ثبوت رسيږي چي هغه دعلمي او يا فزيکي تجريبي په اساس احساس کړل سي ، ولي د دوی په مقابل کي بيا د غير ماده پرستانو نظريه موجوده وه چې د دي نظريي په اساس دين او اقتصاد يو له بل سره اړيکه لري.

**دپورته** ذکر شويو ټولو نظريو څخه داسي پايله په لاس راځي کومي نظريي چي دين او اقتصاد يو له بل څخه جلا بولي لکه ( ماده پرستي، مارکسيسزم ، سيکولريزم ) دهغوی څخه Mainstream economy په وجود راځي او هغه تيوری او نظريي چي هغوی دين او اقتصاد سره

يو ځای بولي یاهم اقتصاد ددين يوه برخه بولي لكه(   ) دهغوی څخه بيا heterodox economy جوړيږي چي په هغه كي دين او اقتصاد يو له بل سره تكميلوونكي اړيكي لري او دغه اقتصاد هغه وخت په وجود راغلی چي كله پر Mainstream economy باندي ډير انتقادونه وشول او په پايله كي يي داسي اقتصاد چي په هغه دين ورګډ وو رامنځته شو چي په مطلق ډول دنوي كلاسيكانو دنظريي خلاف وه.

Heterodox economyوكولای سول چي په مختلفو هيوادونو او ځايونو كي د دين او اقتصاد تر منځ اړيكه او رابطه رامنځته كړي.

**داسلامي نړی ليد اساسي غړي :** اسلامي اقتصاد داسلامي اصولو او قوانينو څخه مشتق شوی دی.

اسلام دتسليميدلو په معنی دی او بل ځای بيا دصلحي په معنی هم ياد شوی دی، داسلام كليمه پر دي باندي دلالت كوي چي ټول اقتصادي فعاليتونه او كتني بايد د الله په نامه سره وي.

دين  ددیـّن له كليمي سره ارتباط لري چې له هغه څخه وروسته مدنيت په وجود راغلی دی او له هغه څخه بيا تمدن رامنځته شوی دی. نو دعادي ژوند سره سره انسانان بايد په اقتصادي ژوند كي هم دخپل رب  شكر ګزاره و اوسي .

په اسلامي اقتصادي سيسټم كي دريمه ډله هم شتون لري نو كله چي يو څوک كار كوي او بيا زكات او نور وركوي دريمي ډلي (بي وسه افرادو) ته دغسي افرادو ته په اسلامي اقتصاد كي شكرګزاره ويل كيږي په داسي حال كي چي په عصري يا دوديز اقتصاد كي بيا دا افرادو ته paleoanthropic يا هم بشر دوستان ويل كيږي.

اسلام په ټولنه كي دانسانانو په ژوند كي هوساينه راولي او  دانسانانو پر ژوند تاثير كوي او دغه هو ساينه په سياسي، اقتصادي، ټولنيز، فردي او كورني نظام او ژوند كي هم هوساينه رامنځته كوي .

په اسلام كي د افرادو په ټولو چارو او فعاليتونو كومو كي چي دوی بوخت دي عبادت شامل دی، او همداشان اسلام يو منځنی اقتصادي سيسټم كاروي .

په اسلامي اقتصاد كي چي كله ديو چا ماديت زياتيږي ورسره دهغه معنويت اړخ هم زياتيږي په داسي حال كي چي په دوديز اقتصاد كي چي يو زياتيږي هغه بل بايد كم شي.

**داسلامي اقتصاد ساحه او تګلاره**

**اقتصاد تعريف :**

- اقتصاد يو ټولنيز او اجتماعي علم دی كوم چي دتوليد، مصرف، توذيع او همداشان دداجناسو دتبادلي اړخونه تر مطالعي لاندي نيسي.
- اقتصاد هغه علم دی چي د انسانانو دسلوک اړيكه د منابعو دمحدودوالي او كميابی سره مطالعه كوي. يعني كله چي په ټولنه كي منابع كمي شي د انسانانو سلوک به د دغه كمښت په اړه څه ډول وي چې اقتصاد دا مطالعه كوي.

په دوديز اقتصاد كي ددي اړيكي په اساس رامنځته شوي حالت ته rationality (منطقيت) وايي او يو اقتصادي واحد ته economic us وايي ولي په اسلامي اقتصاد كي هغه ته خليفه ويل كيږي .

Rationality اقتصاد پوه فکر لري چي منابع محدودي دي او باید په هغو کي مثریت په نظر کي ونیول شي دوی مثمریت په نظر کې نه نیسي.

- اقتصاد هغه علم دی چي ټولنه دهغه په وسیله کمیابه منابع مدیریت کوي .

**اسلامي اقتصاد تعریف :**

- Hasanuzzaman(1991) اسلامي اقتصاد دخپلو دندو او دشریعت داحکامو پوهه او تطبیق کول دي چي دمادي منابعو په تخصیص او (disposal) استملاک کي دبې عدالتی مخه نیسي تر څو دمنابعود استعمال څخه دانسانانو د رضایت سبب شي او دخدای (ج) او ټولني په وړاندي هغوی ته د خپلو مکلفیتونو دترسره کولو توان ورکړي.

له دودیز اقتصادي تعریف سره توپیر دادی چي په هغه کي یوازي فردي اړتیاوي په نظر کي نیول شوي وي ولي په اسلامي اقتصاد کي فردي او ټولنیزي اړتیاوي په نظر کي نیول شوي دي او هم دالله(ج) په وړاندي خپل مسوولیت پوره کوي.

- Chapra(19996) : دعلم او پوهي هغه څانگه ده چي دمنابعو دتخصیص او ویش له لاري دانسانانو د رفاه داحساس په قوي کولو کي مرسته کوي تر څو داسلامي اصولو او لاربنوونو سره مطابقت ولري په داسي ډول سره چې دقانوني فردي ازادی مخه نه نیسي او همداشان په دوامداره توگه دلوی اقتصاد او ایکولوژیکي عدم توازون مخه هم نیسي.
- Sidiqi(1996) اسلامي اقتصاد دخپل وخت اقتصادي ننگونو او خنډونو ته د (مسلمان فکر) ځواب دی ځکه چي . دوی د دقران او سنتو او همدارنگه د عقل او تجربې له مخي په دي هڅه کې وه چي دمنابو تخصیص په ښه ډول سرته ورسوي.
- Zarqa(2003) اسلامي اقتصاد هغه علم دی چي دهغه لاربنوونه دشریعت له لوري کیږي او په اسلامي اقتصاد کې ټول انسانان (مسلمانان او غیر مسلمانان) ددوی سلوک، او په ادارو، نهادونو او په اقتصادي ژوند پوري اړونده پالیسۍ شاملي دي.
- په اسلامي اقتصاد کي دمطلق کمښت پر ځای نسبي کمښت په پام کي نیول شوی دی په داسي حال کي چي په دودیز یا غربي اقتصاد کي بیا مطلق کمښت په نظر کې نیول شوی دی.

او همداشان په اسلامي اقتصاد کي دشتمنیو اعظمي کول او گټي اخیستني اعظمي کول یوازینۍ ستونزه او هدف ندی بلکي اسلامي اقتصادیو ټولنیز علم دی چي داسلامي نړی لید ددارزښتونو او همداشان دانساني استدلال او تجربي په اساس د انسانانو اقتصادي ستونزي مطالعه کوي، دهغوی دحل لپاره لاري چاري پیدا کوي او ارزونه ورڅخه کوي.

**داسلامي اقتصاد ځانگړتیاوي:**

1. **ربانیت:** اسلامي اقتصاد یو الهي اصل لري او داسلامي نړی نظر دا دی چي خدای (ج) یوازینی خالق، مالک تو دسرچینو برابرونکی دی.

داقتصادي فعالیتونو پیل دقران الکریم څخه ریښي لري او په دي اړه ډیر ایتونه شتون لري چي په هغو کې الله (ج) دخپلو نعمتونو دمسخره کولو یادونه کړي ده.

شريعت او اسلامي ارشادات داسلامي اقتصاد هغه اولني normative اصول تشکيلوي او همداشان په قران الکريم کي دحلالو او حرامو په اړه هم ډير ايتونه شتون لري چي د دي ټولو اړخونو په نظر کې نيولو سره ويلای سو چې داسلامي اقتصاد لومړنی ځانګړتيا ربانيت دی.

2. **انسانيت :** داسلامي اقتصاد دوهم ځانګړتيا داده چې نوموړی اقتصاد دانسان لپاره دی او همداشان د منابعو په تخصيص، توذيع او او ودي د تطبيق لپاره معنوي او فزيکي دواړي ځانګړتياوي لري چي په هغه کي بايد شريعت او اخلاقو د موخو په تعقيبولو کي دقت مراعت شي ځکه چي اخلاق او شريعت يو له بل سره تړلي دي د غربي اقتصاد سره يې توپير دادی چې په هغه کي يوازي مادي اړخ په نظر کې نيول کيږي په داسي حال کي چي په اسلامي ااقتصاد کې دواړه اړخونه په نظر کي نيول شوي دي.

**فلاح:** دانسانانو دمعنوي او مادي اړخونو تر منځ توازون ته فلاح ويل کيږي .

3. **اخلاقيت :** په اسلامي اقتصاد کي خليفه هميشه دننګونو سره مخ وي چي هغه بايد دشيطاني وسوسو څخه خپل ځان راوباسي او داقتصادي ستونزو دحل لپاره د عقل سره سره د شريعت دلاربښوونو مطابق اخلاق مراعت کړي ځکه په ځمکه کي د انسان يوازينی موخه د الله (ج) دلاربښوونو او احکامو په تطبيق سره دخپل ځان تابع کول دي.
په غربي اقتصاد کي اقتصادي ستونزي ددي باعث کيږي چې هغوی RETIONAL فکر وکړي چي په هغه کي دګټي اعظمي کول او دمنابعو لاسته راوړل مهم دي او اخلاقي اصلو نواو معيارونو ته پکښې توجوه نکيږي پداسي حال کي چي په اسلامي اقتصاد کي انسان بايد تر هغه وخته RETIONAL فکر وکړي تر څو يې معنويت له منځه ولاړ نسي چې هغه داخلاقو مراعت کول دي.په غربي اقتصاد کي يې ښه مثال د فورن صنعت ايجادول دي چي په هغه کي فقط دګټي اعظمي کول موخه ده او اخلاقي معيارونه په نظر کي نه نيسي.

4. **وسطيت :**وسطيت يا اعتدال په اسلامي اقتصاد کي ډير اهميت لري او په دي اړه دقران الکريم ډير ايتونه شتون لري او همداشان زيات نبوي احاديث پدي باره کي موجود دي .
وسطيت دا معنی لري چي په اقتصاد کې بايد لوی او عظيم ګيپونه( خاليګاوي) شتون ونلري.
دمثال په ډول هغه کمپنی چي s&pد شرکت سره ثبت دي دکال څخه ددي شرکت ريس ۱۲۳ لکه امريکايي ډالر معاش ورکوي په داسي حال کي چي خپلو کارکونکو ته بيا دکاله ۳۵زره امريکايي ډالره معاش ورکوي چي دا ددوی دمعاشونو تر منځ يو لوی ګيف دی او دلته وسطيت او اعتدال په نظر کي نه دی نيول شوی ولي په اسلام کي چي هرڅومره د يو چا شتمني زياتيږي د ټولني نور غريب افراد ورسره راپورته کيږي ځکه چي مالداره او شتمن خلک زکاتونه او صدقي ورکوي چي ورسره دغريب او مالداره تر منځ خاليګاه کميږي او دوسطيت اصل تطبيقيږي.

5. **عمليت :**داسلامي اقتصاد بله ځانګړتيا د عملي کيدلو ځانګړتيا ده.
په اسلامي اقتصادکي شريعي اصولو دمراعت سره سره ځيني فعاليتونه ممکن روښانه الهي لاربښوونو ته اړتيا ونلري او د اسلامي شريعت د اصولو سره په ټکر کي نه وي مګر بياهم بايد دقانون پيروي وکړي.لکه علت او معلول تر منځ اړيکه معلومول چي هغه دانسانانو دفکر زيږنده وي او دمختلفو تګلارو په واسطه معلوميږي لکه: deductive, abdicative,

indicative تګلارو کارول او استفاده کول ددي نماینده ګي کوي چي اسلامي اقتصادي نظام یو عملي او تطبیقي اقتصادي سیستم دی.

6. **عالمیت:** اسلامي اقتصاد یوازي دمسلمانانو لپاره نه بلکي دټول انسانیت لپاره دی. مسلمان اقتصاد پوهانو ته په کار دي چي انسانیت ته پیغام ورسوي او دهغوی سره داقتصادي ثبات او رفاه په راوستلو کي مرسته وکړي.

**Scope of Islamic economics داسلامي اقتصاد ساحه:**

داسلامي اقتصاد په ساحه کي دري برخي یا اجزاوي شاملي دي چي هره یوه یې په جلا جلا توګه تشریح کوو

1. **اقتصادي سیستم(economic system)** :اقتصادي سیستم یو چوکاټ دی چي په هغه کي داقتصادي واحدونو له لوري اقتصادي ستونزو دحل لپاره یو له بل سره اړیکي او روابط جوړیږي ، اقتصادي سیستم دلاندي معمولي عناصرو څخه جوړ دی: څه باید وي ؟ څه کول او نه کول ؟ صحیح څه دي او غلط څه دي؟ قانوني څه دي او غیر قانوني څه دي؟ حلال څه دي او حرام څه دي؟

په اقتصادي سیستم کي دیوي ټولني نړی لید، اهدافو، مقرراتو او بنسټونو مجموعه ده چي ټولنه یې دخپل اقتصادي ژوند داداره کولو او تعقیبولو کي هغه ته ترجیح ورکوي.

اقتصادي سیستم normative یا اصولي برخي پوري اړه لري او معمولا اصول دي چي داقتصادي واحدونو رول داقتصادي ستونزو په حل کي مشخصوي او تمثیلوي.

اصول پورته ذکر شوي دي.

**Normativeاصول په اسلامي او غربي اقتصادي سیستمونو کي:**

- **اسلامي اقتصادي سیتم کي :**اهداف د غربي یا دودیز اقتصادي سیستم سره تو پیر لري، په اسلامي اقتصادي سیستم کي هدف فلاح ده پداسي حال کي چي په غربي اقتصادي سیستم کي بیا هدف دګټي اعظمي کول دي.
- اسلامي اقتصاد کي اصول الهي دي ولې په غربي اقتصادي سیستم کي بیا اصول وضعې دي یعني د انسانانو په لاس جوړ سوي اصول دي.
- په اسلامي اقتصادي سیستم کي انتخاب ته ترجیح ورکولو صلاحیت دانسانانو په واک کي ندي ولي په غربي اقتصادي سیستمونو کې دانسانانو دسلوک په ذریعه انتخاب ته ترجیح ورکول کیږي.

2. **اقتصادي تحلیل (economic analysis) :**اقتصادي تحلیل په اقتصاد کي داقتصادي متحویلینو ترمنځ اړیکه بیانوي او اقتصادي حقایق رابرسیره کوي. او اقتصادي تحلیل د اقتصاد په positive اصولو پوري اړه لري او په what سره ځوابیږي.

په اسلامي اقتصاد کي هم دغربي اقتصاد په څیر دعلت معلول یا هم داغیز او لامل تر منځ اړیکه موجوده ده او په دي برخه کي اسلامي او غربي اقتصادونه سره یو شان دي.

ارزښتونه ددو لارو یا طریقو په ذریعه سره پر اقتصادي تحلیل باندي تاثیر کوي:

دمقالي یا تحلیل لپاره دموضوعاتو او پوښتنو انتخاب.

دمتحویلینو انتخاب چي داقتصادي پیشو په تشریح کي کارول کیږي.

3. **Economic policies اقتصادي پالیسی:** اقتصادي پالیسي دا معنی لري چي زموږ اقتصاد چیري دی او زموږ اقتصاد باید چیري ولاړ سي، په اقتصادي پالیسیو کي د ,normative

په اقتصادي پالیسیو کي اهداف او وسایل دواړه شامل دي چي اهداف د normative برخه ده او وسایل بیا د positiveبرخه ده چې له اقتصادي سیستم څخه را اخیستل شوي دي.

اقتصادي پالیسي داغیز او لامل تر منځ یو ډول پوهه کاروي تر څو اهدافو ته درسیدو په برخه کي له هغه څخه استفاده وکړي.او دا پوهه کارول داسلامي او غربي اقتصادونو ترمنځ توپیر لري.

**په اسلامي اقتصادي سیستم کي مشخصه میتودولوژي یا تګلاره کومه ده ؟**

داسلامي اقتصادي سیستم په میتودولوژي کي دري مشخصي برخي شاملي دي.

1. **NAGATIONیا منفي کول:** په اسلامي میتودولوژي کي هه برخي چي داسلامي احکامو سره په ټکر کي وي له خپل سیستم څخه منفي کوي لکه دمثال په ډول سود، احتکار، حرام، شراب او نور چې کله له سیستم څخه لیري کړل شول نو سیستم له له اسلامي نورمونو سره جوړیږي. او په نني غصر کي دهغه لپاره شریعي مهارتونه شتون لري تر څو دهغو په ذریعه سره دسیستم څخه حرامي برخي منفي کړي .
2. **INTEGRATION یا یو ځای کول:** په اسلامي اقتصادي سیستم کي ځیني برخي ورسره یو ځای کیږي ترڅو اسلامي او غربي اقتصادي سیستمونه سره یو ځای کړي. لکه د اقتصادي تحلیل POSITIVE ELEMENTES او نور چي دوه اقتصادي سیستمونه سره یو ځای کوي.
3. **ADDEDیا اضافه شوي برخه:** په اسلامي اقتصادي سیستم کي ځیني برخي سیستم ته ور اضافه کیږي چي هغه په غربي اقتصادي سیستم کي شتون ونلري لکه دریم سکټور چي په هغه کي زکات، وقف، هبې او نور شامل دي ، د دریم سکټور په ذریعه سره تفاوتونه له منځه ځي البته په اسلامي اقتصادي سیستم کي.

**اسلامي اخلاق او اقتصاد :**

**اخلاق:** اخلاقي اصول دي کوم چي د انسان سلوک کنترولوي چي انسان ددي اصولو په اساس فعالیتونه او چاري مخته وړي. یا هم اخلاقي اصول دي چي دانسانانو سلوک په فعالیتونو او معاملو کي کنترولوي.

داخلاقي اصولو مثالونه په اقتصاد او Finance کي: 1. په ښه عقیدي او احتیاط سره په اقتصادي معاملوکي برخه اخیستل. 2. دایماندارۍ او انظام شتون په فعالیتونو کي 3. یو چاته دخپل تجارت په اړه پر وخت او صحیح معلومات ورکول. 4. دتطبیقي اصولو او قوانینو سره دځان عیارول، جوړول او منل. 5. دنورو احترام کول. 6. دنورو خلکو حقوق پیژندل او منل. اخلاق باید رضاکارانه وي ځکه چي داخلاقو لپاره خاص معیارونه او قوانین نشته.

**اخلاق په اقتصاد کي :** که څه هم په دوديزو اقتصادی سيستمونو کي اخلاقو ته اهميت ورکول کيږي ولي بيا هم پدي ورستيو کي په ځينو هيوادونو کي دمالي سکټور په برخه کي (ECG) په نامه پانګوني رامنځته شوي او پلانونه جوړشوي چي له مخي يي بايد لاندي دري برخي مورد نظر ونيول شي لکه: چاپيريال، ټولنه او دولت کې خاص جوړښت رامنځته شو چي دی ته (ECG criteria)ويل کيږي.

کله چي د (ECG criteria) په يو اقتصاد کي مراعت شول ويل کيږي چي پدي اقتصاد کي اخلاق مراعت شوي دي، که څه په عموم کي اقتصاد دوه اړخونه لري چي يو اړخ يې engineering او بل اړخ يې اخلاق (ethics) دي.

ځيني عالمان بالخصوص دشلمي پيړی اکثريت عالمان داقتصاد دengineering برخي ته زياته توجوه کوي لکه: جان باسټ سي، الفرډ مارشال، وارگس اونور هغه عالمان وه چي يوازي يي داقتصاد دengineering اړخ مورد نظر نيوی او هغه يې لوجيستيک اقتصاد باله.

ځيني نورو عالمانو لکه ادم سميت (۱۷۲۳ – ۱۷۹۰) اونورو بيا د اقتصاد engineering اړخ سره سره پدي عقيده درلوده چي انسان بايد دژوند کولو طرز او طريقه زده کړي د ادم سميت يو سوال دی How one should live ياهم يو څوک بايد څنګه ژوند وکړي؟ او ادم سميت وايي چي انسان يا اقتصادي واحد نه بايد يوازي منطقيت (rational) ولري او homoeconomicuse واوسي بلکي انسان بايد داسي وي چي څنګه دی.

ځينو نورو عالمانو يادونه کوي ددي لپاره چي دانسان سلوک جوړ شي ځينو موثره تشويقي کړنو او ميکانيزمونو ته اړتيا شته ځکه په اقتصادي سيستم کي افراد شته او ددي لپاره چي دهغوی سلوک جوړ شي نه يوازي دا چي هغوی بايد تشويق سي بلکي بايد دهغو لپاره ځيني مقاصد او موخو ته په ژوند کي اړتيا شته. لکه په ټولنه کي ددوی ژوند، دهغوی حقوق دنورو په وړاندي، او دنورو حقوق ددوی په وړاندي ټول هغه مقاصد دي چي بايد څواب شي.

۱۹ او ۲۰ پيړی دځينو نورو هغو عالمانو چي هغوی داقتصاد علم دساينس په حيث پيژني په نظر ساينس بايد له حقوقو څخه جلاسي او دغه ډول عالمان ته instrumentalists عالمان وايي او دهغوی تمرکز پر اسبابو او وسايلو دی دوی نظر لري چي انسان بايد دښه ژوند لپاره منابع او وسايل دځان سره ولري او دهغو په اساس خپل ژوند مخته يوسي، ددي ډول عالمانو يو لاسته راوړنه parito optimum او يا هم parito efficiency ده چي په هغه کي موثريت په نظر کي نيول شوي ده ولي عدالت په نظر کي تدی نيول شوی، او دخلاقو سره يي رابطه دا ده چي په دي ډول نظريه کي عدالت ته ځای ندی ورکړل سوی نو اخلاق هم ندي پکښي مراعت سوي.

دامام غزالي صاحب په وينا اخلاق هغه اصول دي کوم چي دهغو په وسيله انسان ځان دشيطاني وسوسو او کړنو څخه ساتي يا هم اخلاق هغه قانون دی کوم چي په هغه سره دنفس رفاه لاسته راوړل کيږي.

اخلاق ځيني عقيدوي باورنه دي کوم چي دصحح او غلط په اړه دي او هغه بايد دزده کړي سره سره بايد استعمال او تطبيق سي او په ټولنه کي عملي کړل شي.

اسلامي اخلاق مرکزي فلسفه لري چي دقران او نبوي سنتو څخه سرچينه اخلي.

**داخلاقو لازمي يوځايوالی د اقتصاد سره :** پخوانيو اقتصادي تيوريانو نشوای کولای چي په همزمانه ډول اخلاق او اقتصاد يو له بل سره مراعت کړي. يا هم پخوانيو اقتصادي تيوريو ددي توان نه درلود چي دانسانانو غير مادي اړخونو يا هم اخلاقو ته وده ورکړي .

اوسنی مالي سیستم دانسانانو لپاره کافي ندی ځکه زیات تمرکز په مالي ارزښتونو باندي کوي او داسي استدلال کوي چي دانسانانو شتون په ټولنه کي ددوی له مالي ځواک سره ښنلوي چې دا کار په پرمختللو او پرمختیایي هیوادونو کي د نه جبرانیدونکو بحرانونو لامل کیږي،

Artificial financial assets شتون ددي باعث کیږي چي په ټولنه کي بې ثباتي، بي عدالتي، بې نظمي او ددي تر څنګ ټولنیزه ناراحتي رامنځته کړي ځکه کچیري خلګ Artificial financial assets څخه په ټولنه کي د وسیلي په توګه کار واخلي نو په ټولنه کي ناراحتي رامنځته کوي دمثال په په ډول په تولیدي برخو کي دریبوټونو څخه استفاده کول د انسانانو دبې کاری لامل کیږي چي دا یو ډول ټولنیزه ناراحتي ده.

نو دي ټولو ته په کتو سره دا لازمي کیږي چي باید له اخلاقو څخه په اقتصاد کي استفاده وشي تر څو په ټولنه کي ناراحتي او بې عدالتي کمه شي. په دي برخه کي عالمانو دCorporate social responsibility او ایجنسي باندي ډیر تمرکز کړی دیعني مخکي چي سرمایه ګذاري د corporate له لوري ترسره کیدل باید اوس دCorporate social responsibility تر عنوان لاندي ترسره سي، او ټول فعالیتونه چي ترسره کوي هغه باید د CSR , ECG Criteria او نور په نظر کي نیولو سره ترسره کړي ځکه دا Criteria ثابتوي چي اخلاقي مغایرونو ته ضرورت شته.

بل شی چي پدي برخه مهم دی هغه Public- private partnership(PPP) دی چي د دولتي او خصوصي سکتور دشراکت موډل دی او په هغه کي چي کله عامالمنفعه پروژو جوړولو ته ضرورت وي او دولت نشي کولای چي هغه جوړ ي کړي نو دولت دلته دخصوصي سکتور سره Public- private partnership(PPP) داسي قراردادونه ترسره کړي چي ګټه یې دولت او خصوصي سکټور دواړو ته ورسیږي . مثال په ډول دکابل –کندهار سړک بیا رغونه چي خصوصي سکټور ته ورکول شوی دی.

**اخلاق په اسلامي اقتصاد کي :** اخلاق داسلام په مبارک دین کي مرکزي ځای لري، اسلام او له هغه څخه مخکي ادیانو(عسویت او یهودیت چي منسوخ شوي نه وه ) تمرکز تر ډیره پر غریبو خلکو باندي وو او دسلام په راتګ سره هم پر غریبو خلکو تمرکز زیات دی او په قرانالکریم کې ډیر داسي ایتونه وجود لري کوم چي دغریبو خلکو سره دمرستي امر او یادونه کوي.په اسلام کي اقتصادي عدالت د فساد فی الارض دمخنیوي داسلامي مفکوري سره تړاو لري لکه د( دفصلونو له منځه وړل، د ځارویو له منځه وړل، د خلګو په طبقو ویشل او دهغوی تر منځ تبعیض، وینه تویول او داسي نور) چي دا مفهوم داسلامي اخلاقو بنسټ جوړوي او پدي اړه د قران الکریم ډیر ایتونه شتون لري.

په قران الکریم کي الله (ج) فرمایي ( بشکه الله تاسو په عدل او احسان سره امر کړي یاست)

حدیث شریف کي چي په ابو داود کي ذکر سوی دی نبي علیه سلام فرمایي( د انسان داعمالو په تله (ترازو)کي تر اخلاقو هیڅ شی وزن نلري ).

بل حدیث شریف کي چي ابن ماجه کي ذکر سوی دی رسو الله (ص) فرمایي (صادق او امانتدار مسلمان تاجر به دقیامت په ورځ دانبیااوو، صدیقینو او شهیدانو سره یو ځای وي ).

**داسلامي اقتصاد داخلاقو اساسي اړخونه :**

1. **توحيد :** په ټولو اقتصادي معاملو کي بايد دتوحيد اصل مراعت سي، يعني دټولو منابعو اصلي مالک بايد يوازي او يوازي الله (ج) وبلل شي او انسان بايد دا منابع دالله يو امانت وبولي او دامانت په ډول ورڅخه استفاده وکړي، نور هغه اخلاقي اړخوم=نه چي بايد مراعت سي په لاندي ډول دي.
2. **دقيامت په ورځ حساب ورکونه:** ټول افرادبايد دا په معاملاتو کي په نظر کي ولري چي دټولو معاملاتو حساب ورکونه به په يوه معلومه ورځ چي هغه دقيامت ورځ ده ورکوي.
3. **دقران او سنتو لارښوونو ته پاملرنه کول:** کله چي يو څوک معاملات ترسره کوي بايد په هغو کي دقران الکريم او نبوي احاديثو لارښوونو ته پاملرنه وکړي چي په هغو کي څه ډول لارښووني ورته سوي دي،
4. **عبادت يا دالله (ج) سره اړيکه:** اقتصادي فعاليتونه او نور معاملات بايد دعبدت په موخه ترسره شي يعني فعاليتونه داسي ترسره کړي چي په هغه کي يې د الله (ج) رضا او عبادت مطلب وي.
5. **انسان دخدای(ج) دخليفه په حيث:** انسانان په ځمکه کي دالله(ج) خليفه ګان دي نو بايد په خپلو ټولو کړنو او فعاليتونو کي دالله (ج) دخليف ګانو په حيث رول ادا کړي.

**اساسي اخلاقي اصول :**

1. **په ځمکه کي درزق لټول (Roaming the earth to gain substance):** په دي اړه دقران الکريم ډير ايتونه شتون لري لکه الله (ج) چي فرمايي :ژباړه : ( الله تاسو ته ځمکه فرش کړل تاسو په هغه کي وګرځی او رزق پيداکړی ويې خوری او ستاسو بيرته راتګ دالله لوري ته دی)، يعنی درزق پيداکول يو الهي امردی او دهغه حساب ورکول بيرته الله (ج) ته داخرت په ورځ.
2. **دټولو لپاره عدالت Justice to all human being :** دلته هم زيات ايتونه او احاديث شتون لري چي په هغه کي دټولو لپاره د عدالت يادونه کوي يعني درزق دپيدا کولو لپاره بايد يو بنده دبل بنده ازادي سلب نه کړي ځکه الله (ج) ټولو بنده ګانو ته درزق دپيدا کولو ازادي ورکړي ده.
3. **مهرباني او پاملرنه (Mercy and care) :** شفقت او مهرباني له لويو اخلاقو څخه دي او هغه بايد په اقتصادي معاملاتو او فعاليتونو کي هم مراعت شي.
4. **دعامه او خصوصي ملکيتونو تر منځ توازون (Balance between private and public ownership ) :** په اسلامي اقتصاد کي دسوسياليزم او کفټاليزم په خلاف عامه او خصوصي ملکيتونه دواړه شتون لري او دعامه او خصوصي سکتور ترمنځ بايد دملکيتونو يو توازون موجود وي چي په هغه کي ځيني برخي د دولت او ځيني د خصوصي سک/تور وي.
5. **دشتمنيو حفاظت (Preserving wealth) :** الله (ج) مو مسلمانان د پنځو شيانو په ساتلو امر کړي يو چي هغه (د دين ساتنه، دنفس ساتنه، دشتمنی ساتنه، دنسل ساتنه ، ) چي دي ته دشريعت مقاصد هم ويل کيږي او په هغو کي دشتمنيو پر ساتلو هم امر شوی دی ، شتمنی بايد داسي وساتل سي چي راتلونکی نسل هم وکلای سي چي له هغو څخه استفاده وکړي او دا داخلاقي اصولو څخه دي.

**Behavioral guidelines یا سلوکي لارښووني:** په اسلامي اقتصاد کي داخلاقي لارښوونو سره سره سلوکي لارښووني هم ذکر سوي دي.

سلوکي لارښوني هغه انفرادي لارښووني دي چي په هغو سره دحرامو او حلالو توپیر کیږي او ځیني یي په لاندي ډول دي:دحلال رزق لاسته راوړل او دحلالو موخو او مقاصدو لپاره دهغه مصرفول.

- دکورنی، ټولني او نورو په وړاندي مسوولیت درلودل: یعني داسلامي مالي خدماتو په شمول دحلالو تولیداتو او خدماتو وړاندي کول چي په هغه کي دټولني او کورنیو اړتیاوي په نظر کي نیول سوي وي .
- په ګډه او همکاري سره کار کول: لکه دبنسټونو پراختیا او یاهم قرض الحسن له لاري یو له بل سره مرسته کول.
- صداقت او ریښتونولي : دشک او تردد څخه پرته په اقتصادي معاملاتو کي ښکیلتیا او همداشان دخطایستونکو اعلانانتو او نورو څخه په اقتصادي فعالیتونو کي مخنیوی کول.
- صدقه او قرباني یا هم رحم او پاملرنه : یو چاته قرض الحسن ورکول دثواب په نیت

**داخلاق او مارکیټ (ethics and market) :** کله چي رسول الله (ج) مدیني منوري ته راغلی نو مسجد نبوی ته یي نژدي پراخه ځمکه دبازار لپاره رانیول او دهغه لپاره ځیني اصول وټاکل:

- دمدیني منوري بازار ته هر څوک په ازاد ډول راتلای او تلای سوای. یعني مارکیټ ته دداخیلیدو او وتلو محدودیت نه وو.
- دمدیني په بازار کي مالیه معاف سوي وه او له چا څخه مالیه یا بل شی نه اخیستل کیده.
- دمدیني په بازار کي یو تاجر پربل بهتریت نه درلودی یعني ټولو ته د تجارت مساوي حقورکول شوی وو.
- دانحصار او احتکار دمخنیوي لپاره باید مال بازار ته راوړل سوی وای او دمارکیت څخه مخکي بل ځای نه سوای خرڅیدلای.
- دوزن او نورو دټاکلو او پیمانه کولو لپاره معیاري اسباب موجود وو ابته دهغه وخت اسباب.
- دمعلوماتو غیر تناظري حالت شتنون نه درلودی یعني په اقتصادي معاملو کي داجناسو او نورو په اړه معلومات په واضح ډول ورکول کیدل .

پورته ذکر شوي ټول موارد ددي ښکارندویي کوي چي په اسلامي اقتصاد کي دمارکیټ د سمون لپاره اخلاق مراعت شوي دي.

**Role of the individual, society and the state:** داخلاقو دایجاد لپاره دري ډوله نظارت مهم دی چي بایدترسره سي:

1. **Internal screening:** داخلي نظارت دخپل شعور داخلي پرده ده،مسلمان په خپله داسلامي اخلاقي ارزښتونو دمراعتولو لپاره لاس په کار دی. چي په هغه کي احسان او نیکی ته ډیره توجوه کیږي .

چي په هغه کي باید خپل ځانونه جوړ کړل سي او هغه وخت جوړیدلای سي چي انسان خپل نفس تر نظارت او کنترول لاندي راولي.

2. **Social screening**: که څه هم شخصي تصميمونه دټولني له خوا ( پر حق باندي امر کولو او دبديو څخه دمنعه کولو) يا هم دامر بالمعروف او نهی عن المنکر له لاري کنټل کيږي.

په اسلام کي ټولنيز نظارت د demonstration effect سره توپير لري کوم چي په دوديز اقتصاد کي شتون لري.

په دي برخه هغه څه واضح کيږي چي په ټولنه کي کوم څه ښه دي، کوم څه بد دي، کوم څه پر ټولنه تاثير لري دغه ټول موارد بايد په دغه برخه کي تر نظر لاندي ونيول سي.

3. **Legal screening**: قانوني نظارت دشريعت او دولت له لوري ترسره کيږي يعني دا چي دشريعت په اساس اقتصادي چاري څنګه ترسره سي او دوضعي قانو په اساس بايد اقتصادي چاري بايد څنګه ترسره شي.

په اسلام کي دټولني يا عامه ګټي د افرادو له شخصي ګټو څخه بهتروالی لري.

پورته حالاتو ته په کتو سره ديو اقتصادي واحد په حيث يو څوک بايد پورته دري نظارتونه مورد نظر ونيسي.

## دوهم فصل

## اقتصادي سيستم

**اقتصادي سيستم :** دځلورو اقتصادي واحدونو لکه کورنی، تصدی، دولت، بهرنی سکټور (X-M)تر منځ خپل منځي اړيکو ته اقتصادي سيستم ويل کيږي، اقتصادي واحدونه اقتصادي واحدونه داقتصاد هغه فعاليت کنترولوي کوم چي په هغهکي دمنابعو تخصيص او ويش کنټروليږي، سيستم په رسمي اوغير رسمي ډول داقتصادي واحدونو اړيکي تنظيموی.

سيستمونه يو له بل سره توپير لري ځيني سيستمونه دانساني نظريو په اساس رامنځته شوي لکه سوسياليزم، کپيټاليزم، اونور...او ځيني نور بيا دالهي احکامو پر بنسټ رامنځته شوي دي لکه اسلامي اقتصادي سيستم.

**اسلامي سيستم او نظريي:**

- په عمومي ډول هر اقتصادي سيستم لاندي څلور ځانګړتياوي لري:

1. Motivation and incentive of the economics agent's داقتصادي واحدونو تشويق او انګيزه: انګيزه هر هغه څه ويل کيږي کوم چي دعمل دترسره کولو لپاره اقتصادي واحدونه راجلبوي.

**مادي انګيزي لکه:** مالي او پولي، مادي شمنی ورکول يا درلودل. او نور ...

**غير مادي انګيزي:** لکه معنويت، اخلاق، دين او مذهب، ضمني، نفس، او همداشان طبعي

**دنياوي انګيزي:** مادي او غيری مادي هڅوني دي کومي چي لنډمهاله دي او يوازي پدي دنياوي ژوند پوري اړه لري.

**داخرت انگیزي او تشویق:** په دیني لحاظ انگیزي دي لکه په اسلام کي جنت او دوزخ او همداشان عیسویت او یهودیت هم په خپل وخت کي چي منسوخ سوي نه وه دا انگیزي او هڅوني درلودي.

**اخلاقي انگیزه او هڅونه:** په دي برخه کي یو ځانګړي عمل ته د سم کار په ډول ویل کیږي او یاهم په یو ځانګړي عمل کي ناکامي چي د ټولني او مذهب له خوا غندل کیږي.

داخلاقي انگیزي تطبیق کولای سي چي دځان درناوی، approval او نور دځان سره درلودلای سي.

هر اقتصادي سیستم دخپلو اقتصادي واحدونو دتشویق او انگیزي لپاره یو خاص حالت ولري.

2. Property ownership دملکیت حق: دملکیت سره داقتصادي واحدونو ټولنیزي او قانوني اړیکي ته ویل کیږي.

ملکیت کیدای سي چي : منقول، غیر منقول، حقوقي، اداري او یاهم کیدای سي چي فکري وي .

او همداشان ملکیت هم ملکي یعني خصوصي او یاهم کیدای سي دولتي ویږ.

**دمارکیټ په اساس ملکیت:** چي په هغه کي دقیمت ، کرایي ، خرڅلاو اونور ....

**په سوسیالیستي نظام کي** : ټول ملکیتونه عامه دي او فردي ملکیتونه شتون نلري نو له همدي امله په دغه نظام کي ملکیتونه یو له بل سره توپیر نلري.

**دملکیت ټاکل:** دا مشخص کول چي کوم واحدونه کوم ډول حقونه او دندي لري دحقونو مثالونه لکه : دکنترول حق، دلیږد حق، دملکتونو څخه دتولید شوی شیانو داستعمال حق، او داسي نور...

**په کفتالیزم او سوسیالیزم کي** دملکیت وروستی او اخیري حق داقتصادي واحدونو سره دی په داسي حال کي چي د اسلام په مبارک دین کي بیا دملکیت اصلي حق د الله(ج) سره دی او اقتصادي واحدونه د دي ملکیت نایب او سرپرستان دي.

په هر اقتصادي سیستم کي باید د ملکیت حق معلوم وي چي ملکیت دچا دي ایا ملکیت د دولت دی او که دخصوصي سکټور دی او که د دواړو دی.

3. Organization of decision – making دتصمیم نیوني صلاحیت: دا معلومول چي تصمیم نیونه مرکزي او که غیر متمرکزه ده ، هر اقتصادي سیستم باید واضح کړي چي تصمیم نیونه باید دچا له خوا ترسره شي یعني دولت تصمیم نیسي، خصوصي سکټور تصمیم نیسي او که په دواړو تصمیم نیسي.

مرکزي تصمیمم نیونه چي په سوسیالیزمکي کارول کیږي : د دولت یا نورو مرکزي چارواکو له خوا تصمیم نیول کیږي او داجرایوي ځواک له خوا تطبیق کیږي.

**غيري متمركزه تصميم نيونه** كي چي په كفتاليزم كي كارول كيږي ټول اقتصادي واحدونه واک لري چي پريكړي وكړي او له نورو سره تړونونه وكړي او همداشان په دغه ډول تصميم نيونه كي دمتقابل عمل څخه د قيمت دسيگنالونو په اساس دكورنيو، شركتونو او نورو له خوا تصميم نيول كيږي.

**اسلام اقتصادي نظام كي** : تصميم نيونه مختلطه ده چي په ځينو حالاتو مركزي او په ځينو حالاتو كي بيا غير متمركزه تصميم نيونه هم جواز لري.

4. Coordinating mechanism دتصميم نيوني ميكانيزم: ديو اقتصادي سيستم دتصميم نيوي تنظيم ته ويل كيږي او په هغه پوري اړه لري.

**دمركزي تصميم** نيوني ميكانيزم ته كمانډ يا مركزي ميكانيزمونه ويل كيږي.او اقتصاد ته يي command economy ويل كيږي.

**دغيرى متمركزه تصميم نيوني** ميكانيزم ته دماركيټ يا ازاد بازار مكانيزم ويل كيږي او اقتصاد ته يې دازاد بازار اقتصاد ويل كيږي چي په هغه كي تصميم نيونه په ماركيت كي ترسره كيږي.

پورته مكانيزمونو ته coordinating ميكانيزمونه ويل كيږي ځكه چي په مركزي كي يوازي دولت او په غيرى متمركزه نظامونو كي بيا تصميم نيونه د عرضي او تقاضا په تعادل پوري اړه لري.

**په اسلام كي** دمركزي او غيرى متمركزه تصميم نيوني اختلاط رامنځته شوى دى او يو ميكانيزم شوى دى مثلا كچيري انحصار رامنځته كيږي دولت بايد مداخله وكړى ولي په عادي حالاتو كي دولت مداخله نكوي.

هر كله چي تصميم نيول كيږي نو بايد په هر اقتصادي سيستم دا واضح وي چي دتصميم نيوني ميكانيزم څه ډول دى يعني تصميم څه ډول نيسي او دتصميم نيوني ميكانيزم بايد په هر اقتصادي سيستم كي بيان او واضح شي.

**داقتصادي سيستم عملياتي اصول :** په اقتصادي سيستم كي كچيري پورته ذكر سوي څلور ځانگړتياوي جوړيږي هغه به دعملياتي اصولو په اساس جوړيږي.او همداشان داقتصادي واحدونو اقتصادي تصميم نيوني تشريح كوي. لكه :

اقتصادي واحدونه څنگه تصميم نيسي چي څشى توليد كړي؟

څنگه يي توليد كړو او دچا لپاره يي توليد كړو؟

دتوليدو مصرفاو توذيع په اړه دتصميم نيوني ميكانيزم څه دول دى؟

دولت څنگه دټولني په پريكړو كي مداخله كوي؟

د دولت دمداخلي وسايل كوم دي ؟

پورته ذکر شوي عملياتي اصول په مختلفو اقتصادي سيستمونو کي توپير لري ځکه هر اقتصادي سيستم په خپله فلسفه پوري اړه لري او ددغو پوښتنو لپاره مختلف ځوابونه لري.

**داقتصادي سيستم موخي او اهداف:** د اقتصادي سيستمونو اساسي هدف دټولنيزي رفاه رامنځته کول دي، او دټولنيزي رفا داهدافو دتر لاسه کولو لپاره کارول شوي وسيلي او اقدامات په سيستمونو کي يو له بل سره توپير لري چي اساسي توپير يي په نورمونو او ارزښتونو کي دی.

دمثال په ډول سيکولر ټولني دفلاح او اخرت په اړه فکر نکوي  ولي مذهبي او اسلامي ټولني بيا فلاح، ديني ارزښتونو او ديني نورمونو ته زياته توجوه کوي.

داقتصادي نظام ګډي موخي يا :  Common goals of economic system

**موثريت(efficiency):** چي ديو اقتصادي سيستم څخه موثريت او کټه تر لاسه سي .

**مساوات(equity):**چي  بايد په اقتصادي سيستم کي ټو لو افرادو ته ورکول سي.

**اقتصادي ازادي (Freedom:** اقتصادي ازادي ته ويل کيږي چي بايد هرڅوک اجازه ولري تر څو دملکيت خاوند واوسي او همداشان دکار کولو اجازه ولري.

**وده او پراختيا(growth):**دمنابعو ودي او ساتني ته ويل کيږي.

**امن يا security** : دمنابعو خونديتوب او له هغو څخه داستعمال خونديتوب.

**دهدافو ثبات يا stability** : دپورته پنځه ذکر شويو اهدافو ثبات ته ويل کيږي چي بايد په اقتصادي سيستمونو کي هر وخت موجود وي .

**د اقتصادي رفا اندازه ګيري Measurement of economic welfare :** د اقتصادي رفاه د اندازه ګيری لپاره په دوديزو سيستمونو کي لاندي شاخصونه کارول کيږي.

مادي رفاه زيات وختونه په  GDP سره اندازه کيږي.

**Human development index (HDI)** يا هم دانساني پرمختګ شاخص: په دي ډول اندازه ګيري کي دتعليم او روغتيا اندازه او هغو استعمال شامل دي چي دهغو په اساس ټولنيزه رفاه اندازه ګيري کيږي.

**Happiness index ياهم دخوشحالی شاخص**: چي په هيوادونو کي دخوشحالی کچه اندازه کوي.

**Good country indexيا هم دښه هيواد شاخص**: دا شاخص دا اندازه کوي چي هر هيواد دانسانيت او سياري په ګډو ګټو کي څه مرسته کوي.

پورته ټوله ذکر سوي شاخصونه وضعي دي يعني دانسانانو له لوري ټاکل کيږي.

**مگر په اسلامي اقتصادي سیستم** کي ټولنيزه رفاه د مقاصد شريعه دشاخص په اساس اندازه ګيري کيږي مقاصد شريعه پنځه دي لکه ( د دين ساتنه، دشتمنيو ساتنه، دنفس ساتنه، داولاد ساتنه،      ) دي چي وضعي ندي بلکي الهي دي .

### د اسلام اقتصادي سیستم

اسلام يو جامع دين او دژوند ټول اړخونه پکښې شامل دي او په هغه کي ځين اصول شتون لري لکه سياسي، تشريفاتي، اجتماعي، کلتوري او نور...چې دټولو منشا اسلامي شريعت دی .

څنګه چي اقتصاد اجتماعي علم دي نو په سالمي اقتصاد کي داقتصاد اصول او نورمونه (Normative) هم له شريعت څخه منشا اخلي ولي داچي دځينو ټولنو عنعنات او رواجونه سره متفاوت دي نو ممکن داسلامي اقتصاد (Positive) عناصر يو له بل سره يو څه متفاوت وي او يا هم ځيني مکانيزمونه ممکن يو له بل سره توپير ولري دمثال په ډول هيوادونه دتاريخ له پلوه بو له بل سره متفاوت وي نو ممکن (Positive) عناصر يي هم يو له بل سره يو څه متفاوت وي. ولي داسلامي اقتصاد اساسي نورمونه او اصول په ټوله نړی کي يو ډول دي او هيڅ ډول توپير نلري.

**داسلام داقتصادي سيستم تاريخچه :**په عرب ټاپووزمه کي داسلام په راتګ سره په تريج سره دقتصادي فعاليتونه داسلامي فلسفي پر بنسټ مخته وړل کيدل.

8-13 پيړيو تر منځ دوره د اسلامي اقتصادي سيستم يوه طلايي دوره وه چي داروپا په پرتله ډير پرمختللي وو.

18-19 پيړيو کي دلوديزي اروپا دبنسټيز او ټيکنالوژيکي بدلون په راتګ سره اروپايان وکولای سول چي دخپلو توليدي فعاليتونو دهمغږه کولو ظرفيت لوړ کړي او په سبب سره اسلامي اقتصادي سيستم کمزوری کړی.

**داسلامي اقتصادي سيستم اساسي فلسفي اجزاوي :** دا فلسفه له قران او سنتو څخه اخيستل سوي او دهغو په اساس داقتصاد اقتصادي او ټولنيزي تګلاري ترتيب سوي دي.

انسانان دخپل رب مزدوران : انسانان دخپل رب بنده ګان او مزدوران دي او له هغو څخه داسي توقوع کيږي چي مسخره سوي منابع په داسي ډول سره استفاده کړي چي د دوی رفاه د فلاح راسته راوړلو سبب کيږي . دمادي او معنوي رفاه توازون ته فلاح ويل کيږي .

داسلام اقتصادي سيستم لاندي څلور اساسي فلسفي مفاهيم لري چي په لاندي ډول دي:

1. **توحيد (monotheism):** توحيد په دي معنی چي دټولو منابعو مالک به يوازي الله (ج) وي او پر وحدانيت باندي انسان بايد کلک ودريږي او ټولو منابعو مالک يوازي الله (ج) وبولي او همداشان انسان بايد منابع دخپل ځان لپاره امانت وبولي .
2. **عبادت(worshipping) :**په اسلامي اقتصادي سيستم کي چي کله اقتصادي واحدونه فعالتونه سرته رسوي بايد دعبادت په موخه يې ترسره کړي  او دعبادت په نظر کې نيولو سره بايد اصول هم مراعت کړي يعني دحرامو او حلالو ترمنځ توپير، دسود حراموالی، داحتکار او نه احتکار تر منځ توپير او داسې نور بايد مراعت سي چي دي ته عبادت ويل کيږي.

3. **خلافت (Vicegerent) :** انسان باید ځان دخپل رب خلیفه یا استازی وبولي، او په تولنه کي داسي فعالیتونه ترسره کړي چي هغه دانسان دفضیلت او شرافت سره وښایي ځکه انسان اشرف المخلوقات دی.
4. **امانت (trusteeship) :**دانسانانو نسلونه باید یو له بل سره داسي ژوند وکړي چي دمنابو په استعمال کي اعتدال او میانه روي اصول مراعت کړي یعني مخکي نسلونه باید منابع امانت وبولي او داسي یي استعمال کړي چي راتلونکي نسلونه هم له هغو څخه استفاده وکولای سي.

**داسلام داقتصادي سیستم ځانګړتیاوي :** لکه دنورو اقتصادي سیستمونو په شان اسلامي اقتصاد هم ځانګړتیاوي لري ولي دنورو سره توپیر لري، اوهغه په لاندي ډول دي.

1. **انګیزه او تشویق (motivation& incentives) :** اسلامي اقتصاد کي فردي یا ځاني ګټه شته ولي مقیده ده، یعني بنده دګټي او رفاه دلاسته راوړلو حق لري ولي دده ګټه او رفاه باید دبل بنده دګټي او رفاه مانع نسي.

فردي ګټه داسلام داقتصادي سیستم له لوري داسي تقسیم سوي ده چي هغه دټولني درفاه لپاره اساس رامنځته کوي ځکه هرخومره چي فردي ګټه یا رفاه زیاتیږي هغه دټولني ددریمي ډلي درفاه دزیاتیدو سبب کیږي او پدي ډول سره په ټولنه کي دشتمن او بډایه تر منځ فاصله کمیږي او همداشان افراد د اخرت لپاره هم فکر کوي پداسي حال کي چي په کفتالیزم ددې برعکس.

فردي ګټه ددي باعث کیږي چي په ټولنو کې دافرادو او خلکو انظام رامنځته سي او ټولنه پراختیا وکړي، فردي ګټه په اسلام کي هم ددنیا لپاره او هم داخرت لپاره شتون لري.

الله (ج) په قران الکریم کي اطاعت کوونکو ته دانعام او نه اطاعت کوونکو ته دعذاب خبرداری ورکړی دی، انسان عمل به په اخرت کي دهغه اجر تاکي چي لدي څخه معلومیږي چي له دنیا سره سره په اخرت کي هم دالله (ج) له لوري خپلو بنده ګانو ته تشویق شته.

په اسلام کي دخپلي ګټي، دنورو ګټي او دټولني، دولت یاعامه ګټو پر ساتلو باندي ټینګار سوی دی.

2. **Property ownership دملکیت حق :** اسلام نه شخصي ملکیت ردوي او نه هم غیر مقید شخصي ملکیت ته اجازه ورکوي، یعني په اسلامي اقتصادي سیستم کي افراد دشخصي ملکیت خاوندان کیدلای سي خو په مقید ډول ،

الله په سورت زخروف کي فرمایي : ژباړه : ( ستاسو په ژوند کي چي کوم څه دي هغه موږ درکړي دي او ځیني ستاسو څخه مو پر ځینو ستاسو څخه بهتره کړي دي)، له دي ایت شریف څخه معلومیږي چي په اسلام کي د مقید شخصي ملکیت ازادي سته . البته دسوسیالیزم او کفتالیزم خلاف په اسلام کي مختلط ملکیت ته اجازه ورکول سوي ده.

اسلام

3. **Organization of decision – making and coordination mechanism دتصمیم نیوني دهماهنګی مکانیزم په اسلام کي:** په اسلام کي دسوسیالیزم او کفتالیزم په خلاف (چې سوسیالسزم کي مرکزي تصمیم نیوني او په کفتالیزم کي بیا غیر متمرکز دتصمیم نیوني مکانیزمونه موجوددي) ولي په اسلام کي دتصمیم نیوني مختلط مکانیزم موجود دی، یعني دتصمیم نیوني مکانیزم کي هم مرکزي او هم غیر متمرکزه تصمیم نیونه شتون لري او اقتصاد ته اسلامي اقتصاد ویل کیږي.

**کچیري په اسلامي اقتصاد کي normative economics ته ځو نو هلته به تصمیم نیونه مرکزي وي یعنی الهی دي او کچیري positive economic ته ځو نو هلته بیا تصمیم نیونه غیری متمرکزه وي.**

یعني د اقتصاد اساسي داصول دالله (ج) او شریعت له لوري ټاکل شوي ولي دا چي څومره تو لید شي او دچا لپاره تو لید سي کمپنی او کورنی هم کولای تصمیم ونیسي.

داسلامي اقتصادي نظریي په اساس: مارکیت غیر مکمل دی او په هغه کي باید دخصوصی سکتور سره دولت یا هم ولی لامر او همداشان عامه ملکیت تر منځ یو بیلانس او توازون هم شتون ولري.

همداشان کچیري یوازي مثمریت په نظر کي ونیول شي نو ممکن دمنابو توزیع په ښه ډول سرته ونه رسیږي نو دد ي لپاره چي دمثمریت سره سره موثریت هم رامنځته سي نو دخصوصي سکټور تر څنګ باید دمارکیټ په تصمیم نیونه کي دولت او عامه سکټور هم ور شامل کړل سي.

**په اسلامي اقتصادي سیستم کي دمارکیټ او دولت رول**

دولت باید په څلورو حالاتو کي په مارکیټ کي مداخله وکړي

1. د اقتصادي واحدونو فعالیتونه کنټل او نظارت کول.
2. Preference of economics agents in market دا معلومول چي اقتصادي واحدونه په مارکیټ کي کوم څه ته زیاته تر جیح ورکوي کچیري اقتصادي واحدونه داسي څه ته ترجیح ورکړي چي هغه ته اجازه نه وي نو دولت باید په داسي حالاتو کي په مارکیټ کي مداخله وکړي.
3. Provision of public goods دعامه اجناسو ساتل: دعامه او ټولنیزي رفاه دساتلو لپاره دعامه ملکیتونو او اجناسو ساتل ددولت دنده ده.
4. دمحیط ساتل: ددي لپاره چي هغه څه چي په چاپیریال کي ژوند کوي لکه ټوله ایکو سیستم دهغوی دژوند کولو دمحیط دخوندیتوب لپاره باید دولت مداخله وکړي.

همداشان دپورته څلورو مداخلو تر څنګ دولت باید په مارکیټ کي نظارت او څارنه هم وکړي.

**داسلامي اقتصادي سیستم عملیاتي اصول :** ددي لپاره چي اسلامي اقتصادي سیستم پلی او عملي سي باید لاندي اصول په نظر کي ونیول سي.

1. ماهرانه او په موثره ډول دفعالیتونو سرته رسولو ته ویل کیږي. ترڅو دوی دخپل عمل څخه متیقین سي.
2. **عدل او احسان:** کله چي اقتصادي واحدونه تخریب نه وي پکښي موجود یعني کله چي یو اقتصادي واحد له منابعو څخه استفاده کوي نو باید دنورو اقتصادي واحدونو لپاره منابع تخریب نکړي.
3. **تعاوون او همکاري:** داقتصادي واحدونو ترمنځ دشخړو او لانجو پرځای دتعاوون او همکاری څخه استفاده کول د اسلامي اقتصادي سیستم له عملیاتي اصولو څخه دی.

4. **رقابت او همکاري:** رقابت او سيالي بايد داسي وسي چي کومه شخصي گټه او مفاد په لاس راوړل کيږي هغه بايد دنورو دگټو او مفادد مانع نسي او همداشان انسان بايد شخصي گټه ترلاسه کړي او له هغه سره دټولني نوري برخي هم راپورته کړي چي دا حالت ته رقابت او همکاري ويل کيږي.
5. **حساب ورکونه او مسوولیت : خلافت او امانت :** پدي معنی چي ټول اقتصادي واحدونه مسوول او حساب ورکونکي دي.

په قران الکريم کي الله (ج) فرمايي: ژباړه ( هغه ورځ به راشي چي په هغه کي هغه چا چي ښه کارونه کړي وي هجرونه به ترلاسه کوي هغه چا چي بد کارونه کړي وي دا اميد به لري چي کاشکې له بدو کارونو څخه لري واى).

ټول اقتصادي واحدونه په اسلامي اقتصادي سيستم کې دخپلو دندو او مسوليتونو په اړه دخداى(ج) په وړاندي مسوولیت درلودونکي او حساب ورکونکي دي .

**داسلامي اقتصادي سیستم موخي:**داسلام داقتصادي سیستم **عمومي موخه** رحمت الله للعالمين دی ( دټولي نړی او ټول بشريت لپاره بايد رحمت وي)

**انفرادي موخه يي :** فلاح ده چي کوم چي دمادي او معنوي رفاه تر منځ توازرن ته ويل کيږي.

او همداشان دشريعت او اسلام داخلاقي معيارونو په چوکاټ کي د انسان درفاه اعظمي کول.

**دلوی اقتصاد** په سطحه دلوی اقتصاد دمتحويلينو پراخوالی او زياتوالی دی.

**داسلامي اقتصادي سیستم توپیر له نورو اقتصادي سیستمونو سره :**

- **دانگيزي يا (incentive) په اساس:** داسلام په اقتصادي سيستم کي مقيده شخصي گټه اجازه لري، په سوسياليزم کي شخصي گټه اجازه نلري او وجود هم نلري، پداسي حال کي چي په کفټاليزم کي بيا مطلق دشخصي گټي ازادي شته.
- **دملکيت دحق يا (ownership) په اساس: په** اسلامي اقتصادي سيستم کي مختلط دملکيت حق شتون لري ، سوسياليزم کي دملکيت حق يوازي دولت لري او په کفټاليزم کي بيا دملکيت حق خصوصي سکټور لري.
- **دتصميم نيوني يا (decision- making)په اساس:** داسلام په اقتصادي نظام کي تصميم نيونه مختلطه ده و په سوسياليزم کي تصميم نيونه مرکزي ده او په کفتاليزم کي بيا غيری متمرکزه تصميم نيونه وجود لري.
- **دمنابعو دتخصيص يا (resources allocated)په اساس:**
- **دمارکيټ په اساس** : داسلام اقتصادي سيستم کي د افرادو او دولت دواړو مارکيټونه شتون لري ، په سوسياليزم کي يوازي د دولت مارکيت شتون لري او په کفټاليزم کي بيا يوازي د افرادو مارکيتونه شتون لري.
- داسلام اقتصادي سيستم مختلط اقتصادي سيستم دی، دسوسياليزم اقتصادي سيستم بيا planning economy ويل کيږي او دکفتاليزم اقتصادي سيستم ته دمارکيټ يا بازار اقتصاد ويل کيږي.

# دریم فصل

## اسلامي کوچنی اقتصاد

**دکوچني اقتصاد تعریف :** هغه علم دی چي دانفرادي تصدیو او کورنیو اقتصادي پریکړي مطالعه کوي چي څنگه هغوی خپل اقتصادي تصامیم نیسي . یا هم هغه علم دی چي دانفرادي اقتصادي واحدونو فعالیتونه او سلوک تر بحث لاندي نیسي او هغه مطالعه کوي.

اقتصادي واحدونه لکه کورنی د مصرف کوونکي په حیث او تصدی دتولیدوونکو په حیث فعالیتونه سرته رسوي.

**دودیز تعریف یي :** کوچنی اقتصاد هغه علم دی چي د دافرادو او شرکتونوچلند مطالعه کوي، دکمیابه منابعو تخصیص او دافرادو او تصدیو تر منځ دتعامل او چلند په اړه بحث کوي .

اقتصادي واحدونه لکه (کورنی، تصدی، دولت، صادراتي سکټور) چي مخکي دکلاسیکانو په وخت کي دکوچني اقتصاد له نظره یوازي کورنی او تصدي خو اوس مهال پورته څلور یاد سوي واحدونه پکښي شامل دي .

**اسلامي کوچنی اقتصاد :** کوچنی اقتصاد هغه علم دی چي داسلام په اداري چوکاټ کي دانفرادي اقتصادي واحدونو چلند مطالعه کوي .

دانفرادي اقتصادي واحدونو اقتصادي سلوک داسلام له نظره ددوه ډوله اصولو په اساس کنترولیږي چي هغه (positive & normative) اصول او عناصر دي. چي positive عناصر یي value list دي یعني خاص ارزښت نلري ولي normative اصول او عناصر بیا value based دي او دیو خاص ارزښت په اساس دانفرادي اقتصادي واحدونو فعالیتونه مخته وړي. Normativeاصولو ټاکونکي عناصر عبارت له دین او ټولني څخه عبارت دي.

په داسي حال کي چي positive اصول تقریبا په دواړو اقتصادونو کي سره یو شان دي ولي په غربي اقتصاد کي Normative اصول که څه هم value based دي ولي په عمل کي حقیقت نلري او ټاکوونکي عوامل یي ټولنه او دین ندي بلکي انفرادي دي یا دانفرادي افرادو له لوري ټاکل سوي دي. او دوی غواړي چي په همزمانه ډول په need او wants دواړو کي هم گټه وکړي او هم مطلوبیت اعظمي کړي. او همداشان غربي اقتصاد دعرضي او تقاضا موډل لري او هغه ددوی دسلوک معلوملو لپاره یو تاکونکی عناصر بولي. ولي اسلام دا موډل نیمگړی بولي او دریم سکتور هم ورسره گډوي.

**په اسلامي کوچني اقتصاد کي دبحث او غور لپاره دوه ابعاد :**

- کورنی او تصدی دخپلو کټو دتعقیب لپاره اقتصادي فعالیتونه سرته رسوي او مارکیټ دتبادلي له لاري دخپلو شتمنیو دزیاتوالي لپاره یوله بل سره اړیکه نیسي.
- کورنی او تصدی اقتصادي فعالیتونه سرته رسوي ترڅو دلږ امتیاز لرونکو خلکو او ټولني اړتیاوي هم ورسره پوره سي چي دا کار د دریم سکټور یا رضاکارانه سکټور له لاري سرته رسیږي.

**داسلامي کوچني اقتصاد او عنعوي کوچني اقتصاد تر منځ اساسي توپيرونه**:

- په اسلامي کوچني اقتصاد کي Normative elements د عنعوي کوچني اقتصاد په پرتله زيات رول لري. يعني په اسلامي کوچني اقتصاد کي دا عناصر ته زيات رول ورکول سوی دی ځکه چي هغه الهي دي او دالله (ج) له لوري رامنځته سوي دي په داسي حال کي چي دعنعوي کوچني اقتصاد دا بيا وضعي يعني دانسانانو په لاس جوړ سوي دي .
- داسلامي کوچني اقتصاد ټينګار د دريم سکټور پر رول او له ماركيټ څخه بهر ځيني فعاليتونوچې په عرضې او تقاضا پوري اړه ونلري او همداشان په تحليل کي ددوی پر يو ځای کولو باندي دی.

**مارکيټ او اسلامي کوچنی اقتصاد**

- دوديز کوچنی اقتصاد په مارکيټ کي دعرضي او تقاضا پر بنست په اقتصاد او رفاه کي دمارکيټ رول مشخصوي او دمارکيت دفعاليت لپاره تش په نامه دعادلانه او سولييز چاپيريال لپاره چوکاټ رامنځته کوي.او همداشان دازاد، اغيزمن او رقابتي مارکيټ لپاره قواعد ترتيبوي.
- داسلامي اقتصاد له نظره دعرضي او تقاضا پر بنسټ ولاړ مارکيت محدود دی اونسي کولای چي د ټولو اقتصادي فعاليتونو لپاره کفايت وکړي ځکه دعنعوي اقتصاد ډيره تکيه پر positive عناصرو باندي ده په داسي حال کي چي په اسلامي کوچني اقتصاد کي دواړه (normative & positive) فعال او شتون لري چي په هغه کي ځيني فعاليتونه دعرضي او تقاضا له موډل څخه بهردي نو په دي اساس عنعنوي کوچنی اقتصاد نسي کولای چي ټول اقتصادي فعاليتونه وپوښي.

**دريم سکټور او اسلامي کوچنی اقتصاد :** ځيني مکلفيتونه (زکات) او رضاکارانه اقتصادي فعاليتونو(وقف، صدقي اونور) ته دريم سکټور ياهم رضاکارانه سکټور ويل کيږي .

په اسلامي اقتصاد کي د دريم سکټور نسبي اندازه په اسلامي اقتصاد کي دژوروالي ( عميق مسايل څيړي ) ښکارندويي کوي ځکه په دا سکټور کي ځيني داسي فعاليتونه سته چي په عنعوي اقتصاد کي نسته. يعني رفاه، عدالت او موثريت يي دعنعوي اقتصاد په پرتله زيات دی او له اقتصاد سره په اړنده برخو کي مرسته کوي.

دريم سکټور چي کله په اقتصاد کي موجود وي نو کولای سي چي ټولنيزي اقتصادي ستونزي کمي او يا له منځه يوسي په داسي حال کي چي په عنعوي اقتصاد کي يوازي اقتصادي ستونزي حليږي او ټولنيزي اقتصادي ستونزي په نظر کي نه نيسي.

په لنډ ډول ويلای سو چي په عنعوي کوچني اقتصاد کي دکورنيو (دتوليد عوامل مارکيټ ته وړاندي کوي ) او تصديو( اجناس او خدمات مارکيټ ته وړاندي کوي) تر منځ اړيکه شتون لري په داسي حال کي چي په اسلامي کوچني اقتصاد کي بيا دريم سکټور (رضاکارانه سکټور) هم ور اضافه سوی دي .

**په اسلامي کوچني اقتصاد کې مارکيټونه**

**کورنۍ :** کورنۍ په اسلامي کوچني اقتصاد کې په لاندې دريو برخو کې عمل کوي :

1. په مارکيټ کې دتصديو اجناسو او خدماتو ته تقاضا کوي.
2. دعايد ترلاسه کولو لپاره دتوليد عوامل(کاري قوه) او نوري منابع مارکيټ ته وړاندې کوي.
3. په دريم سکټور کې رول لوبوي چې په هغه کې دالله (ج) درضا په خاطردخپل عايد يوه دنورو خلکو اړتياوي دپوره کولو لپاره مصرفوي او خدمات ورته وړاندې کوي.

**تصدی:** تصدی هم په اسلامي کوچني اقتصاد کې په لاندې دريو برخو کې فعاليت کوي :

1. دکورنيو څخه دتوليد دعواملو لپاره تقاضا کول. يعني کاري قوې ته تقاضا کول.
2. دکورنيو او نورو داړتياوو دپوره کولو لپاره داجناسو او خدماتو توليد او عرضه کول.
3. په دريم سکټور کې برخه اخيستل او دالله (ج) درضا په خاطر داجناسو او خدماتو ديوې برخې وړيا عرضه کول.

**په اسلامي کوچني اقتصاد کې درې ډوله مارکيټونه شتون لري چې هغه په لاندې ډول دي:**

- Goods market داجناسو مارکيټ: هغه ځای دي چې په هغه کې دکورنيو له لوري اجناسو او خدماتو ته تقاضا کيږي او دتصديو له لوري ورته عرضه کيږي.
- Factors market دتوليد دعواملو مارکيټ: هغه ځای دی چې په هغه کې دتوليد عواملو ته دتصديو له لوري تقاضا کيږي او دکورنيو له لوري ورته عرضه کيږي.
- Third sector دريم سکټور: هغه ځای دی چې په هغه کې کورنۍ او تصدی په خپله خوښه دالله (ج) درضا لاسته راوړلو لپاره اجناس او خدمات وړاندې کوي.

**کوچنی اقتصاد له اسلامي نظره:** اسلامي نظريي مطابق په دې برخه کې مختلفو چوکاټونو ته اړتيا لري:

دعرضې او تقاضا موډل ممکن د دريم سکټور سره ارتباط ونلري ځکه

**اقتصادي تصميم نيونه: دمنطقي انتخاب له حيثه economic decision-making: the assumption of rational choice**

په عنعنوي اقتصاد کې ديو منطقي انسان مفکوره لاندې دريو برخو ته اشاره کوي:

1. Completeness يا تکميل والی: انتخابونو درجه بندي کول او له هغو څخه يو غوره کول. يعني يو منطيقي انسان غواړي چې هر وخت خپلې اړتياوې(needs) او غوښتني (wants)پوره کړي. نو ددې لپاره هغه خپل انتخابونه درجه بندي کوي او هغو څخه يو يو انتخابوي ځکه قاعده داسې ده چې مصرف کوونکی نسې کولای چې هغه دانتخابونو په اړه پريکړه وکړي کوم چې غوره کوي.

2. Transitivity انتقال والی: انتخابونه باید داسې وي چې ددوی دغورتوبونو سره سمون ولري. او همداشان ددوی انتخاب باید دانتقال وړ وي يعنې يو وخت يې يو شی انتخاب کړی وي بل وخت بیا بل شی انتخابوي او ترجیح ورکوي چې دې ته دchoice انتقال والی وایي.

3. Continuity جریان والی: داجناسو کې عام احساس کول چې نژدې وي او یو له بل سره ورته والی ولري. یعنې دلته منطي انسان دا غواړي چې دا انتخابونو choice ته دوی باید هر وخت لاسرسی ولري.

پورته دري شیان چې کله سره یو ځای سي نو ویلای سو چې نوموړی کس د انتخاب choice په برخه کې منطقي دی البته دا منطقوالی د دودیز ګوچني اقتصاد مربوط ده او په اسلامي کوچني اقتصاد کې تو پیر لري او اسلامي اقتصاد کې پر دې برخو باندې انتقادونه سوي دي ځکه دلته normative elements په نظر کې نه نیول کیږي دمثال په ډول یو څوک دوامداره شراب څښي او پدې ډول خپل ځان تکمیلوي ولې دلته اخلاق او ټولنې ته چې کوم زیان رسیږي هغه په نظر کې نه نیسي او یا هم داسې نوري لارې انتخابوي چې په هغو سره ځان تکمیلوي او نورو ته زیان رسوي .

## په اسلامي اقتصاد کې منطقي انتخاب rational choice in Islamic economics

په اسلامي اقتصاد کې معقولیت دټولنې په ارزښتونو او بنسټونو پورې تړلی دی چې په دې برخه کې زیات توجوه normative elements (دین او ټولنه ) ته کیږي او کله چې یو څوک داشیان د انتخاب په برخه مورد نظر کړي هغه ته په اسلامي اقتصاد کې رشید ویل کیږي.

په اسلام کې کچیري یو څوک غواړي منطقي واوسي نو باید په پورته دري برخوکې چې په عنعنوي اقتصاد کې يې هم یادونه وسوه د normative elements (دین او ټولنه ) سره ارتباط ورکړي او همداشان دخپلو انتخابونو د دوام لپاره هم باید normative elements (دین او ټولنه ) سره ارتباط ورکړي نو کله چې یو څوک دا برخو ته توجوه وکړي هغه ته مسلمان منطقي سړی یا رشید ویل کیږي.

**په اسلام کې داړتیاوو طبقه بندي classification of needs in Islam**

رشید سړی هغه دی چې له ټولو مخکې پرخپلو ضروریاتو (necessities) باندې ټینګار وکړي په دوهم قدم کې پر حاجیاتو باندې او په دریم قدم کې پر تحسیناتو باندې تمرکز وکړي.

1. **ضروریات (necessities):** ټولې هغه اړتیاوو ته اشاره چې هغه نسې ځنډیدلای او نه سې مشبع او پوره کیدلای چې په عنعوي اقتصاد کې ورته حیاتي مصارف ویل کیږي لکه خوراک، څښاک او پوښاک.

- یاهم ټول هغه فعالیتونه او اجناس چې دښه انفرادي او اجتماعي ژوند د بنسټونو دساتنې لپاره اړین او ضروري وي ضروریات بلل کیږي لکه صحت اونور .
- هغه اړتیاوو ته ویل کیږي چې له هغو څخه ډډه کول ممکن دژوند مهم او اړین اړخونه له منځه یوسي.

2. **حاجیات (Complementaries or conveniences):** ټولو هغه اړتیاوو او حاجیاتو ته اشاره کوي کوم چې دژوند ښه کولو او هوساینې لپاره مهم وي دمثال په ډول خواړه چې د ضروریت څخه ورها خوا چې دژوندپه ساتلو او ږهوساینې په وده کې مرسته کوي.

- یا هم هغه اړتیاوي دي کومي چي دضروریاتو مخکي نسي پوره کیدلای.

3. **تحسینات (Refinemembellishments or luxuries) :** هغه اړتیاوو ته اشاره کوي کومي چي دژوند هر اړخ ته ښکلا ورکوي او ښه کوي يي لکه کور، موټر رانیول او داسي نور.

- په دي برخه کي باید دخپل ځان سره سره دریم سکټور هم په نظر کي ونیول سي چي په هغه سره معنیوت جوړیږي او او انسان دستاینې او عزت وړ ګرځي په ټولنه کي.
- دا هغه اړتیاوي دي کومي چي د ضروریاتو او حاجیاتو مخکي نسي پوره کیدلای یعني دهغوی څخه وروسته پوره کیدلای سي.

خلاصه :

رفاه: هر هغه څه چي دانسان دژوند دهر اړخ په پایښت او ښه کولو کي مرسته کوي او دانسان اړتیا ده.

اسلامي اقتصاد په دي پوهیږي چي (need) د(wants ) پرځای د مصرف کوونکي لپاره غالب او ښه عنصر دی.

توازون یا اعتدال: توازون یا اعتدال په ټولو فعالیتونو کي د انسان په تصمیم نیونو کي یو کلیدي او مهم عنصر دی.

## لګښت داسلام له مخي (consumption in Islam)

په اسلام کي د ژوند او لګښت فلسفه معلومه ده چي په هغه کي دژوند او لګښت موخي هم معلومي دي.

**دژوند موخي :**

**عابد (servant)**: انسان چي ژوند کوي دیو عابد(servant) په حیث باید ژوند وکړي او انسان باید خپل ځان د الله (ج) دبنده په حیث وکښي .

**خلیفه (vicegerent):** انسان دالله (ج) خلیفه دی او باید دخلیفه په حیث داسي کارونه ترسره کړي چي دانسان او خلیفه دشان سره وښایي.

**فلاح:** دانسان دلګښت غته او مهمه موخه دا ده چي په هغه سره فلاح او بریالیتوب لاسته راوړي هم په دي نړۍ کي او هم په اخرت کي.

په لنډ ډول ولای سو چي انسان باید په دي نړۍ کي عابد او دالله (ج) خلیفه سي نو کله چي انسان دا دوه کارونه ترسره کړي نو یوه موخه ترلاسه کوي چي هغه ته فلاح ویل کیږي او فلاح ددي نړۍ او اخرت دواړو لپاره بریالیتوب دی.

**فلاح څه ته وایي :** فلاح هغه محرکه قوه یا انګیزه ده کوم چي ددي انګیزي په سبب  مسلمان فعالیتونه سرته رسوي یا هم دهري هغه پریکړي محرک ځواک ته ویل کیږي چي مسلمان يي ترسره کوي . او په فلاح کي دد نیا او اخرت دواړو بریالیتوب موجود دی.چي په دي دنیا کي چي کله انسان خپل لګښت دقران او سنتو په رڼا کي ترتیب کړي دي ته فلاح وایي او په اخرت کي هم ددي فلاح ثوابونه ورکول کیږي.

يو اسلامي منطقي انسان په خپل لګښت سره داسي فلاح لاسته راوړي چي هغه دالله (ج) درضا سبب کيږي يعني دالله (ج) رضا لاسته راړي . نو کله چي انسان په نړی کي ژوند کوي دهغه معقوليت او منطيقيت بايد داسي وي چي دالله (ج) درضا سبب وګرځي.

**عابد څوک دی** : انسان دالله بنده دی او بايد عابد واواسي دسورت الفاتحه ددي دوو ايتونو څخه معلوميږي چي بنده څوک دی.ژباړه ( يوازي ستا عبادت کوو او يوازي له تا څخه مرسته غواړو).

**خليفه څوک دی :** هغه څوک چي دلوړ مقام په استازيتوب ورسپارل سوي واکونه کاروي انسان هم دالله(ج) خليفه دی چي خپله واک نلري بلکي دالله (ج) له لوري ورسپارل سوی ددي خبري داثبات لپاره الله(ج) په سورت البقره کي فرمايي: ژباړه ( وويل الله ملايکو ته چي زه انسان په ځمکه کي خپل خليفه ګوځوم).

**دمسلمان مصرف کوونکي چلند Muslims consumer behavior** : ديو مسلمان مصرف کوونکي چلند او سلوک د (عبد، خليفه، فلاح او امانه) درولونو په پوهيدو پوري اړه لري او هغه رولونه چي لومړی :

- يو مسلمان مصرف کوونکی خپل ځان دالله (ج) عبد يا بنده وبولي او داسي فکر ولري چي ددي نعمتونو مالک يوازي او يوازي الله (ج) دی او انسان يوازي له هغه څخه يوه برخه مصرفوي.
- انسان دالله(ج) خليفه دی او بايد مصرف داعتدال د اصل په نظر کي نيولو سره ترسره کړي. او انسان بايد خپل مصارف دشريعت پربنسټ ترسره کړي يعني په مصرف کول او شريعت سره يوځای کړي.
- بله مهمه خبره دا ده چي دلته دوی(انسانانو) ته يوه انګيزه موجوده وي چي هغه فلاح ده او فلاح ددواړو جهانونو (دارينو ) بريالیتوب دی.
- انسان بايد دوی ته ټول ورکړل سوي نعمتونه امانت وبولي، يعني واحد مالک الله (ج) دی او دکارونو زياته پوهه هم دالله (ج) سره ده او الله (ج) دغه ټول نعمتونه انسان ته دامانت په ډول ورکړي دي او دهغو په انتخابولو او مصرفولو کي بايد دالله (ج) رضا ترلاسه کړي،
- تر ټولو مهمه خبره دا ده چي انسان بايد دا فکر له ځان سره ولري او پردي يي عقيده وي چي مطلق ماليکيت يوازي او يوازي دالله (ج) سره دی ولي اسلام دا مني چي په خصوصي توګه د بنده ګانو سره هم دملکيت حق سته چي په نسبي ډول سره دشتمنيو مالک واوسي .

پورته يادي سوي نقطي هغه ځانګړتياوي دي کوم چي دمسلمان مصرف کوونکي سلوک او چلند دمصرف په برخه کي جوړوي.

**دمصرف کولو لارښود، اصول او دشتمنی کارول guiding principles and utilizations of wealth** : په اسلام کي چي کله يو څوک منطقي چلند کوي او رفاه رامنځته کوي نو بايد دده چلند او رفاه دفلاح رامنځته کيدو سبب هم سي او فلاح له ځان سره ولري. فلاح څنګه لاست راوړل کيږي دهغه لپاره اسلام پنځه شاخصونه ټاکلي دي چي دمقاصد شريعه په نامه هم يادیږي او عبارت دي له( ددين ساتنه، دژوند يا نفس ساتنه، دعقل ساتنه، دشتمنی ساتنه، دنسل ساتنه ) اومنطقي انسان بايد په لګښت کولو کي دا ټول شاخصونه په نظر کي ونيسي.

1. Moderation:
2. Prioritization in utilization رفاه منابع :
3. Prioritization in consumption:
4. Permissible and prohibited items:

1. **Moderation in spending: اعتدال** داصراف اوبخل تر منځ توازون او منځلارى انتخابولو ته ويل کيږي. الله (ج) دقران الکريم

په سورت الاعراف کي فرمايي : ژباړه ( اى دادم اولاده هرکله چي تاسي په عبادت کي ياست ښه لباس وکړى، وخورى او وڅښئ او اصراف مکوئ بشکه چي الله (ج) اصراف کوونکي نه خوښوي)

همداشان په سورت الاسرۀ کي فرمايي ژباړه : (خپلوانو، مسکينانو او مسافرو ته دهغوى حق ورکړى او خپل مالونه په فضول (بي معنى) مصرف مه لګوئ بيشکه اصراف کوونکي دشيطان وړونه دي او شيطان دخپل رب ډيرناشکره دى).

له پورته ايتونو څخه معلوميږي چي اعتدال په اسلام کي خاص ځاى لري او يو مسلمان مصرف کوونکى بايد هغه په نظر کي ونيسي.

بخل : دمنابعو دسمي ګټه اخيستني څخه مخه نيولو ته وايي يعني داعتدال دحالت څخه کم مصرف کولو ته (بخل) او داعتدال دحالت څخه زيات مصرف کولو ته بيا (اسراف) ويل کيږي.

**دبخل، اسراف او اعتدال تر منځ توپيرونه :**

- بخل دي ته وايي چي يو څوک منابع او وسايل لري ولي بيا هم داغوره بولي چي مصرف ونکړي چي دا دانسان دناراحتى سبب کيږي.
- اعتدال هغه حالت دى چي دمصرف کولو په وخت کي نه بې معنى مصارف کوي اونه هم زيات بخل کوي بلکي اعتدال او ميانه روي غوره کوي. لکه څنګه چي الله (ج) په سورت الفرقان کي فرمايي ژباړه( دا هغه کسان دي چي دمصرف کولو په وخت کي نه فضول(بې معنى) خرچي کوي اونه بخل کوي بلکي په عادلانه توګه کار کوي)
- اسراف هغه حالت دي کوم چي داعتدال دحالت څخه لوړ وي او په هغه شيان او اجناس اخلي ولي مصرفوي يي نه او يا يي مصرفولاى نسي.

همداشان د اسراف په اړه زيات احاديث موجود دي چي دهغو له جملي څخه دابن ماجه څخه دا يو حاديث نقل سوي دي ژباړه (رسول الله (ص) يو ورځ دسعد (رض) تر څنګ تيردى په داسي حال کي چي هغه اودس کاوه. رسول الله (ص) وفرمايل دا څه زياتى دى؟ سعد )رض) وويل ايا په اودس کي اوبه زياتي دي ؟ رسول الله(ص) وفرمايل : هو که څه هم ته دسيند په غاړه يي)

2. **Prioritization in utilization په ګټه اخيستنه کي لومړيتوب ورکول:** په دي برخه کي بايد لاندي پنځه کارونه په نظر کي ونيول سي.

لومړی خپلي اړتیاوي پوره کول. دوهم دکورنی دغړو اوستاسو مربوط خپلوانو اړتیاوي پوره کول ، دریم دبیوزلو خپلوانو اړتیاوي پوره کول، څلورم خپلوانو وروسته دنورو اړمنو کسانو اړتیاوي پوره کول او پنځم پاتي شتمني دراتلونکي اړتیاوو دپوره کولو لپاره ساتل او خوندي کول.

**دمصرف کوونکي موخي په اسلامي او عنعنوي اقتصاد کي**

**رفاه (well-being) توپیر په اسلامي او عنعنوي اقتصادونو کي:**

**رفاه داسلامي اقتصاد له نظره** دالله(ج) دلوری دټاکل شویو اصولو سره سم دمال په کارولو سره خپلي اړتیاوي، دخپلي کورنی او مربوطه خپلوانو اړتیاوي، دبیوزلو خلکو داړتیاوو په پوره کولو سره ترلاسه کیږي چي هغه دالله (ج) درضا سبب کیږي.

**دعنعنوي اقتصاد له نظره** رفاه یا دمصرف کوونکي کټه: خوښي یا رضایت دهغه توکو او خدماتو له مصرف څخه ترلاسه کیږي کوم چي مصرف کوونکي دخپلو انتخابونو او ذوقونو په اساس خوښ کړي وي ، یا هم رفاه دمصرف کوونکي دخپلو ارزښتونو او قضاوتونو څخه ترلاسه کیږي.

3. **په اسلام کي د اړتیاوو لپاره دمنابعو تخصیص allocation of resources to need in Islam :** دمصالحي پر بنسټ دمنابو تخصیص باید په لاندي ډول وي:

لومړی : منابع باید داړتیاوړ اجناسو یا ضروریاتو ته ځانګړي سي او وروسته که بیا منابع پاته وي نو بیا دي حاجیات او وروسته تحسینات ته تخصیص کول . داسلامي مصرف کوونکي چلند باید د منابعو پورته درجه بندي ولري.

**داسلام له نظره دمصرف کوونکي دتصمیم نیوني پروسه دمنابعو دتخصیص لپاره :** داسلام له نظره دمصرف کوونکي تصمیم نیونه لاندي انتخابونه ولري.

لومړی قدم : worldly needs او دالله رضاه: هغه اړتیاوي باید پوره سي چي په هغه سره دالله (ج) اوامر پوره کیږي او دالله درضاه باعث کیږي.

دوهم قدم: present consumption & future consumption : داوسني مصرف لپاره دمنابعو درلودل او دراتلونکي مصرف لپاره دموادو اومنابعو درلودل.

دریم قدم : essentials, complimentaries, Amelioratoires : دضرورتونواو حاجیاتو پوره کول، هغه څه پوره کول کوم چي په هغو سره ژوند تکمیلیږي، دهغه څه پوره کول چي په هغوسره ژوند ته بهبود ورکول کیږي.

څلورم قدم: choices between substitutes : کله چي نوري برخي تکمیلي او لومړیتوبونه پوره سي نو بیا مصرف کوونکی کولای سي چي دشیانو تر منځ یو بل ته ترجیح او ریجحان ورکړي.

یو مسلمان مستهلک دیو منطقي مستهلک په حیث باید عابد، خلیفه او امین وي، رفاه زیاته او اعظمي کړي یعني فلاح ترلاسه کړي ، شخصي ګټه ترلاسه کړي خو په دي شرط چي شریعت، اخلاقو او ټولنیز مسوولیت یي په نظر کي نیولی وي، مصرف او استهلاک باید داعتدلال په اساس ترسره کړي، او کوم مصرف چي کوي هغه دعبادت په حیث وبولي او فرض یي کړي.

# پنځم فصل

## تولید په اسلام کې

## (Production in Islam)

**دتولید فلسفه دري اصلي مفهومه لري چې په لاندې ډول دي:**

**1. لومړی مفهوم( دمنابعو څخه مقصد)**

**دتولید پروسه :** هغه فعالیتونه چې په هغه کې منابع دانسانانو له لوري په کار اچول کیږي تر څو دوی په وروستي توکو او خدماتو واړوي عبارت له تولیداتو له پروسې څخه دي.

انسان ته څوک دا حق او ځواک ورکوي ورکوي چې دخپلو ګټو لپاره په مخلوق کې لاسوهنه وکړي؟ اسلامي لرلید یا نظر په دې اړه څه دی ؟ په دې اړه اسلامي لرلید د توحید ربوبیت دی.

الله (ج) دکایناتو ربښتینی مالک دی یوازې الله (ج) دی چې د کایناتو درامنځته کولو وړتیا لري او همداشان د دمخلوقاتو د امر کولو بشپړ واک یوازې او یوازې له الله (ج) سره دی.

الله (ج) په سورت البقره کې فرمایي : ژباړه ( هغه وو چې ټول هغه څه چې په ځمکه کې دي ستاسو لپاره پیدا کړل، بیا اسمان ته وګرځید او اوه اسمانونه یې جوړ کړل، همدا هغه دی چې په هر څه پوه او عالم دی).

**منابع او تخسیر**: الله (ج) په دې اړه په سورت الابراهیم فرمایي : ژباړه ( دا الله دی چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي، چې له اسمان څخه یې اوبه رانازلې کړي دي او په هغه سره یې ستاسو تغذیه کړې ده، هغه کښتی چې یې ستاسو لپاره ګټوري کړي دي او تاسو په هغه کې دالله په امر په سمندراو سیندونو کې سفر کوی، هغه لمر او سپوږمی ستاسو لپاره ګټور کړي دي کوم چې په حال کې دایمي او ثابت دي، هغه شپه او ورځ ستاسو لپاره ګټور کړي دي. او تاسو ته یې هغه څه درکړل چې تاسو یې له هغه څخه غوښتنه کړې وه، که تاسو دالله د نعمتونو دشمیرولو هڅه وکړی نو تاسو هیڅکله د دوی محاسبه نسی کولای، بشکه چې انسان ظالم او ناشکره دی).

له پورته ایت مبارک څخه معلومیږي چې ټولې منابع چې په ځمکه او اسمانونو کې دي د انسانانو دژوند دګټې او هوساینې لپاره تسخیر سوي دي.لکه دمثال په ډول:

داسمانونو او نورو سرچینو رامنځته کولپه ځمکه کې د انسانانو دژوند اسانه کول دي.

نور ټول جوړسوي مخلوقات دانساني واک تابع سوي دي یعني مسخر سوي دي .

هغه رزق چې دلامحدودو سرچینو څخه چمتو کیږي دانسان دژوند دملاتړ کولو لپاره له کافي اندازې څخه ډیر دي.

2. **دوهم مفهوم** : خلیفه: جانشین، استازی، مرستیال: انسان دالله (ج) استازی او خلیفه دی او باید دمنابعو په استعمال کي داستازي رول ولوبوي. او په اسلامي نړی کي چي څوک تولید کوي باید ځان دخلیفه په حیث ځان معریفي کړي. او په دي اړه ډیر ایتونه موجود دي.
3. **دریم مفهوم** : منابع دامانت په حیث: امانت د خیانت مخالف ته ویل کیږي. او دامان کلیمه د امنیت څخه اخیستل سوي ده. یعني دالله (ج) دامر دترسره کولو مسوولیت مطلق مالک دی او موږ لپاره دمنابعو استعمال امانت دی او امانت د یو اغیزمن بازار لپاره یو لازمي اړخ دی.

وروستی هدف یا موخه :

فلاح : یعني دمعنیویت او مادیت ترمنځ توازون ته ویل کیږي.

ددي ډاد ترلاسه کول چي منابع په بشپړه توګه استفاده سوي او بي کاره پاته ندي.

مران : دمناسب کولو وړتیا ته ویل کیږي.

**دتولید تیوري او دتولید عوامل( Theory of Production & Factors of Production )**

**دتولید تیوري یا دتولید کوونکو دچلند تیوري:** ددي تحلیل کول چي څنګه یو تولید کوونکی په اقتصاد کي دټاکل سوي محصول دتولید لپاره بیلابیلي اخذي او وسیلي په موثره توګه د موجوده ټیکنالوژي په نظر کي نیولو سره یو ځای کوي.

یاهم د دي تحلیل کول چي څنګه فزیکي وسیلي دورکړل سوي ټیکنالوژي لپاره په فزیکي تولید بدلیدلای سي.

دتولید فعالیت په دودیز او اسلامي اقتصاد کي یو شان دي او په positive اصولو کي یو له بل سره توپیر نلري بلکي د normative اصولو له مخي یو له بل سره توپیر لري. په هر صورت دتولید په تیوري لاندي دري کلیدي ساحي پوښل سوي دي.

1. **دتولید عوامل**
2. **دتولید فعالیت**
3. **دتولید مصرف**

**دتولید عوامل :** په اسلامي اقتصاد کي د تولید دعواملو په اړه معلومه اجماع نسته یعني او هیڅ توافق نسته.او همداشان دشریعت له خوا هم په دي اړه کوم ځانګړی حکم نسته چي دهغه له مخي اقتصاد پوهان دتولید عوامل طبقه بندي کړي. ولي بیا هم ځیني اقتصاد پوهان په لاندي دري برخو کي طبقه بندي کوي.

1. المال چي دپانګي په توګه پیژندل سوی دی.
2. المال چي کار او متشبث په کي شامل دي.
3. طبعي منابع او سرچیني.

په دودیز اقتصاد کي دتولید عوامل په لاندي ډول دي:

1. ځمکه (Land)     2. کاريگر (Labor)  3. سرمايه يا پانګه (Capital)  4. تشبث  (Entrepreneurship)

**دتوليد عوامل داسلام له مخې :**

**په دي فصل کي 9 سلايډونه پاته دي په ډيري بخښني سره چي ومي نسواى کولاى چي دا هم بشپړ کړم نو هغه درسره وګورئ**

## مارکيت په اسلام کي

## The Market in Islam

**مارکيټ :** مارکيټ هغه خاص ځاى دي چي هلته خرڅوونکي رانيوونکي او دخرڅلاو لپاره خاص شيان (subject matter) موجود وي.

اسلامي اقتصاد مارکيټ ته ځکه ترجيح ورکوي چي مارکيت يو ډول ميکانيزم دی تر څو ديو اقتصاد منابع ورباندي تخصيص سي نو ځکه ديو ميکانيزم په توګه ترجيح ورکوي. اسلام دځلند لپاره اصول او مقررات چمتو کړي دي چي دانسان له خوا په مارکيټ کي دهغه په اقتصادي فعاليتونو کي ليدل کيږي.يعني اسلام دمارکيټ لپاره شريعي او انساني قوانين او مقررات لري چي په هغو سره مارکيت کنټروليږي.

داسلامي او پانګوال مارکيټ تر منځ توپير هم دادی چي په پانګوال مارکيت ازاد دی او اسلامي مارکيټ مقيد ازاد دی.

ځيني اقتصاد پوهان داسي استدلال کوي چي پيغمبر (ص) دمارکيټ دسمون لپاره هيڅ ډول مداخله نده کړي او له ځانه څخه يي په مارکيت کي مداخله نه کول .

په ابو داود کي درسول الله(ص) څخه حديث نقل سوی دي: ژباړه ( خلکو وويل : ای دالله رسوله، نرخونه ډير لوړ سوي دي نو زموږ لپاره نرخونه وټاکه، له دي وروسته رسول الله (ص) وفرمايل: الله (ج) هغه څوک دی چي نرخونه يي ټاکلي دي. او هغه الله ته پريږدی او زه هيله لرم کله چي زه دالله سره ووينم نو ستاسو څخه به هيڅوک زما څخه ستاسي دويني يا ملکيت په اړه دبي عدالتی په اړه ادعا او شکايت ونلرئ)

له پورته حديث څخه معلوميږي چي بغير دشريعت څخه بل څه نسته چي په هغه سره دي مارکيت اداره سي.

**مارکيټ داسلام له نظره او له نورو مارکيټونو سره يي توپير :**

1. **اقتصادي استازي ( Economic Agents) :** 'Islamic man' يا رشيد اطلاح هغه اقتصادي استازي ته کارول کيږي چي دخپلو اخلاقي اهدافو داعظمي کولو لپاره خپل اقتصادي اهداف تعقيبوي. ولي به نورو مارکيټونو کي اقتصادي استازي مادي اهداو ته ترجيح ورکوي او معنوي اهداف په نظر کي نه نيسي او هغه ته منطقياستازی ويل کيږي. اسلمي استازی هم منطيقي استازی دی ولي دهغه منطقيت دفلاح لاسته راوړلو لپاره دی.
2. **کاري چوکاټ (The Framework) :** په اسلامي اقتصاد کي عرضه او تقاضا داسلامي قوانينو پر بنسټ دي يعني کوم څه عرضه سي او کوم څه ته تقاضا وسي چي ددي لپاره اسلامي قوانين او اصول سته. ولي په کپټاليزم کي بيا مطلق دعرضي او تقاضا په اساس دي اوکوم څه چي عرضه کيږي .

توپيرپه ارزښتونواو قوانينو کي دی لکه په کپټاليزم کي مطلقه ازادي ده ولي په اسلام کي بيا مقيده ازادي شتون لري چي دا کار په مارکيت کي (Framework ) په اساس توپير په وجود راوړي.

او همداشان اسلامي ارزښتونو ته په کتلو سره بايد ځيني شيان محدود سي او هغه دعرضي او تقاضا له مودل څخه منعه سي کوم چي داسلامي ارزښتونو سره په ټکر کي دي. لکه نايټ کلبونه يا هم فورن صنعت او نور..

3. د دولت رول (Role of the state) : يوازي مارکيټ نسی کولای چي دټولو لپاره ډاډمنه او کافي رفاه رامنځته کړي ولي اسلامي اقتصاد د دولت د مداخلي اړتيا محسوسوي پتيره بيا په هغه وخت کي چی مارکيټ دناکامی سره مخ وي او نسي کولای چي دي ناکاميو ته حلاره پيدا کړي: او اصول ورته وټاکي

- په سيستم کي داسلامي اقتصاد اصول ('Islamic rules of the game) رامنځته کول او ساتل.
- داسلامي انسان (Islamic man) لپاره د يو مناسب قانوني، ټولنيز، سياسي، او اقتصادي چاپيريال رامنځته کول.
- ددي لپاره چي ډاډ ترلاسه سي چي عدالت او احسان په سيستم او مارکيټ کي غالب دی.

يو اسلامي اقتصادي نظام دوه مهم بنستونه يااداري لري چي دمارکيټ ښه فعاليتونه تضمين کړي او له واکمنانو سره دتصميم په نيولو کي مرسته وکړي لکه اسبا(دعادلانه کړونو څارنه کول او پلي کول) او شورا (مشوره ورکول).

**په يو اسلامي اقتصادي سيستم کي د دولت او مارکيټ تر منځ اړيکه :**




**لومړی دولت**: دولت دمارکيټ لپاره اصول او قولنين ټاکي او جوړوي.

دولت داېالمي اقتصادي انسان يا رشيد لپاره دمناسب چاپيريال رامنځته کول.

دولت تضمين ترلاسه کوي چي په مارکيټ کي عدل او احسان غالب کړي

**دوهم مارکيټ :** مارکيټ داسلامي اصولو او قوانينو په رڼا کي کار کوي .

اسلامي انسان يا رشيد داقتصادي استازي په حيثيه مارکيت کي کار کوي.

**نتيجه :** ترمنځ همغږيتقاضا اودعرضي متقابل عمل چي له جوړونکو سره په خپل منځ او چاپيريال کي دانسان اړيکي څاري . همداشان دمنابعو دغوره او ډير اغيزمن تخصيص لامل کيږي

**دمارکيټ جوړښت او ميکانيزم (Market Structures and Mechanisms) : لومړی کامل رقابتي مارکيټ :**

په تیوریکي توګه موږ داسي فرض کوو چي چي تصدی او مصرف کوونکي دمارکیټ په اړه په بشپړه توګه معلومات لریاو دمنابعو نرخ ثابت وي حتی کله چي شرکتونه مارکیټ ته ننوځي او یا هم وځي ثابت مصارف شتون لري .

1. ډیر شمیر تقاضا کوونکي او عرضه کوونکي شتون لري.
2. تصدی ورته او مشابه تولیدات پلوري او عرضه کوي.
3. دهري تصدی لپاره دمارکیت سهم نسبتا کوچنی دی .
4. تصدی کولای سي چي په اسانی سره مارکیت ته ننوځي او یاهم ورڅخه ووځي .

**دمارکیټ رقابتی مارکیټ په اړه داسلام نظر (Islamic View on Perfect Competition):** داسلام له نظره په مارکیټ کي داجناسو او خدماتو عرضه کول باید قانوني او جایز وي یعنی حلال او حرام باید وپیژندل سي او په حلالو شیانو کي رقابت وکړل سي.

په اسلام کي دمارکیټ برخه اخیستونکو څخه تمه کیږي چي لوړ اخلاقي او فلاحي مسوولیتونه او شعورونه ولري یعني داسي تولیدات ورنکړي چي هغه په ټولنه کي منفي تاثیرات لري.

دمارکیټ له ګډون کوونکو څخه تمه کیږي چي ځیني مصارف په خپلو مصارفو کي ورداخل کړي لکه دمحیط دپاکوالي لپاره مصارف او نور

نو کله چي دا دري شیان په کامل رقابتي مارکیټ کي مراعت سي داسلام له نظره کوم مشکل نلري.

**انحصار (Monopoly)** : خالص انحصار هغه ځه ته ویل کیږي چي په مارکیت کي یو واحد عرضه کوونکی وي او دتصدی له لوري دتولید سوي جنس لپاره هیڅ بدیل شتون ونلري او مارکیت ته دنورو تصدیو د داخیلیدو لپار دخنډونو دایجاد قوت لري.

ځانګړتیاوي یي :

دمحدودو منابعو ځانګړی ملکیت لري.

دیو کار یا فعالیت لپاره خاص جواز ولري چي د دولت له یو خاصي کمپنی ته ورکړل سوی وي چي دا هم مارکیټ دنورو د داخیلیدو لپاره خنډ دی.

د ډیزانیا نظریو، انځورونو،صوتونو، نومونو او یا نورو په اړه دکاپي رایټ حق درلودل.

Economies of scale په سبب دتولي لپاره کم لګښتونه لري چي په سبب یي مارکیت ته دنورو کمپنیو دننوتو لپاره خنډ دی.

ځیني کمپنی په طبعي ډول انحصار ته جوړي وي او انحصاري خاصیت لري. لکه داسي منابع ولري چي نور یي نلري.

**Price Discrimination in Monopoly دقیمتونو توپیر ګذاري په انحصار کي:**

1. دنرخ تبعیض معکولا دانحصار له خوا رامنځته کیږي او یو داسي عمل دی چي په مختلفو قیمتونو کي د ورته اجناسو پلورل پر مختلفو مشتریانو باندي ترسره کیږي.
2. دقیمت دتبعیض لپاره باید انحصاري ځواک ولري تر څو اجناس دبیا خرڅلاو لپاره نه وي او مشتریان هم سره جلا سي.

3. په دوديز لحظ دقيمت تبعض : له هر مشتري څخه دامکان تر حده لوړه ګټه اخيستلو ته ويل کيږي کوم چي دمشتري په دتاديي په وړتيا اوارتجاعيت پوري اړه لري.

**د انحصار ګټې او تاوانونه (Advantages and Disadvantages in a Monopoly) :** په اقتصاد کي ځيني داسي شرايط شتون لري چي دهغه په سبب انحصار درلودل دستراتيژيکو دلايلو لپاره ګټور او مهم ګڼل کيدای سي. لکه

**ګټې يي :**

1. Economies of scale and 'natural' monopolies درلودل البته په داخلي مارکيټ کي يعني په داخلي مارکيت کي ممکن خلګ بديل اجناسو ته مخه کړي.
2. داخلي واکمني او نړيوال رقابت: انحصار بايد داخلي قوت ولري تر څو دنړيوال رقابت کوونکو له لوري زيانمن نسي.
3. ټيکنالوژيکي پرمختګ . دانحصار د دايمي کيدو لپاره پر مختللي ټيکنالوژي شرط ده.

**تاوانونه يي** : اانحصار ممکن په احتمالي توګه پر مصر کوونکو باندي ځيني منفي تاثيرات ولري:

1. رقابتي مارکيت په پرتله لوړ قيمتونه لري.
2. محدود توليدات وړاندي کول.
3. دمصرف کوونکو د surplus او رفاه کموالی.
4. دمصرف کوونکو لپاره دانتخاب محدودکيدل.
5. دمصرف کوونکو دحکميت کميدل په مارکيټ کي.
6. دانحصار زياتوالی داقتصاد غيری موثره کيدو سبب کيږي .
7. په نړيوال مارکيت کي د داخلي تصديو درقابت قوه کموي.
8. په اقتصاد کي دبيکاری زياتوالی : ځکه چي لوړ قيمتونه دتقاضا دکمښت سبب کيږي او په هغه سره توليدات کميږي او دتوليداتو په کمښت سره کارکوونکو ته تضاقا کميږي.

**Islamic View on Monopoly دانحصار اړوند اسلامي نظر:** د اسمه نده چي ووايو اسلام انحصار منع کوي ولي دانحصار دشتون ګټې او تاوانونه او دهر ډول انحصار کول بايد تر پام لاندي ونيول سي.

اسلام دانحصاري ځواک له هغه ګټو څخه منع کوي دکوم په سبب چي ټولنيزي ګټې او او رفاه زيانمنه کيږي. لکه محيط ته زيان رسول او نور....

څرنګه چي هر انحصار ځانته ځېل مارکيتونه لري نو بايد ددي مارکيتونو ټول اړخونه وکتل سي چي هغوی خو په داسلامي اصولو او ارزښتونو سره په ټکر کي نه وي او هغه دخاصو اسلامي شاخصو په اساس ترسره کيږي چي په هغه کي واضح کيږي چي ايا نومړي انحصاري تصدی اخلاقي مسايل، اسلامي ارزښتونه او نور په نظر کي نيولي دي او کنه.

**Oligopoly:** اولیګوپولي دمارکیت یو ډول جوړښت دی چي په هغه کي یوازي یو څو تصدی پر مارکټ تسلط لري. یا هم هغه حالت دی چي په هغه کي یوازي یو څو لوی شرکتونه معمولا پر مارکیت تسلط لري او ددوی له لوري دتولید سویو اجناسو لپاره دنرخ ټاکل ددوی په خوښه وي او کنترول یي هم ددوي په خوښه وي. دوه ډوله تولیدات ورکوي :

1. Homogeneous Products: هغه ډول تولیدات دي چي هغه متجانس وي او دغه ډول ته خالص اولیګو پولي ویل کیږي لکه دصنعتي محصولاتو تولیودونکي چي المونیم، مس، پولاد، زنګ، اوسپنه او نور تولیدوي.
2. Heterogeneous products: ددي ډول اجناسو تولیدوونکي دجنس په اساس یوله بل سره توپیر لري او هغو ته توپیري اولیګوپولي ویل کیږي لکه د موټرانو، مخابراتي توکو او بریښنایي توکو تولیدونکي شرکتونه او اتحادیي.

په اولیګوپولیستیک مارکیټونو کي یو له بل سره په ستراتیژیک ډول رقابت کوي تر څو دنرخ کنترول ترلاسه کړيچي دلته دستراتیژي په تطبیق کولو کي دوه ډوله انحصار شتون لري.

متقابل انحصار: پدي معنی دی چي په مارکیټونو کي یو تصدی باید دهر ډول هغه اقداماتو په اړه محتاط وي کوم چي درقابت کوونکو شرکتونو له لوري ترسره کیږي.

څرنګه چي په مارکیت کي یو څو شرکتونه نو هر هغه شرکت چي خپل نرخ بدلوي یا هم promotional scheme کوي دا پدي منعی چي په مارکیټ کي نورټول شرکتونه دي تعقیب ته اړتیا لري. نو له همدي امله په اولیګو پولیستیک مارکیټونو کي شرکتونه دي ته اړتیا لري چي پدي پوه سي چي ددوی رقابت کوونکي هم ددوی پریکړو او فعالیتونوته ځواب وایي.

**د اولیګو پولي په اړه داسلام نظر Islamic View on Oligopoly:**

دکارپوریټ اوټولني اهداف او مقاصد باید سره مخالف نه وي ځکه دا کار دټولني لپاره زیانمن دي نو هر کارپوریت شرکت باید دانفرادي موخو سره سره ټولنیزو موخو ته هم کار وکړي .

په اسلام کي هغه وخت اولیګوپولي مارکیټونو ته اجازه ورکول کیږي چي په هغه کي price-cutting strategy څخه استفاده ونسي یعني په دي معنی چي کله یو شرکت نرخ ټیټوي خپله ګټه کوي او په هغه سره نور شرکتونه او مارکیت له زیان سره مخ کوي.

داولیګپولي مارکیټ،نو شتون باید د دولت له لوري هر وخت تر څارني لاندي ونیول سي او وڅیړل سي.

اسلامي اصول رقابت تشویقوي ولي رقابت باید په عادلانه شکل تر سره سي یعني پرته لدي چي دنورو امکانات له خطر سره مخ نسي.

**دماریټ تحریف او د دولت مداخله :** دمارکیت تحریف مارکیت ته دهر ډول خارجي پیښیدونکو اختلالاتو ته ویل کیږي دکوم په سبب چي ماریت دبي نظمی سره مخ کیږي.

په ازاد بازار کي معمولا دمارکیت انحراف هغه وخت رامنځته کیږي چي کله دولت په خپله په مارکیټ کي دنظارت، تنظیم یا مستقیمي مداخلي لپاره مشخص ډول اقدامات رامنځنه کړي.

مداخله بیلابیلي بڼې لري لکه دمارکیت قوانین، مقررات، پالیسۍ، مالیات، سبسایډي. دقیمت حد، دپور نرخ او نورو بڼو او شکلونو سره ترسره کیدای سي. او د دولت له لوري مداخله کولای سي چي په مارکیت کي عرضه او تقا ضا تر تاثیر لاندي راولي.

که څه هم په مارکیت کي مداخله کول دمارکیت دبي ثباتی سبب کیږي ولي دا کار دټولني درفاه لپاره ترسره کیږي، په اسلام کي چي کله دولت په مارکیت کي مداخله کوي باید په خپله پالیسي کي دشریعي مقاصدو د درک او تراو  په پام کي ونیسي.

**د حکومت مداخله داسلامي اصولو له مخي:** په اسلام کي دولت دمارکیټ دمداخلي لپاره siyāsah sharʿiyyah (Sharīʿah-guided public policy)  پالیسي څخه استفاده کوي.

ابن تیمیه (رح) په وینا دا دول پالیسي :

داسلام ددین ساتنه

دعدالت او انصاف د ودي لپاره

،دزکات راټولول او ویشل په داسي ډول چي څنګه چي شریعت ټاکلي وي

د اسلام او دهیواد دحاکمیت ساتنه،

په اقتصاد کي چي هرکله د اړتیا پر محال نظارت او مداخله کول ترڅو ډاډ ترلاسه سي ټولنیز- اقتصادي (socio-economic) عدالت غالب او حاکم دی.

**دحکومت دمداخلي لپاره داسلامي اوصولو ضروري شرایط:**

1. دشریعي مقاصدو داصولو په اساس دقیمتونو دکنټرول تطبیق د دولت دپریکړو په اساس کیږي.
2. په مارکیټ کي دموجوده ستونزو او مسئلو دڅیړلو او په مارکیټ کي دمداخلي کولو لپاره باید دولت له متخصیصنو افرادو شره مشوره وکړي چي ایا په مارکیټ کي د دولت مداخلي ته اړتیا سته او کنه.
3. دمداخلي پالسي او ستراتیژي باید دټولو ښکیلو اړخونو لپاره عادلانه او دانصاف پر بنسټ وي.

**په عصري اقتصاد کي د دولت مداخله :** حکومت ممکن دملي ګټو لپاره په مارکیت کي دمداخلي اړتیا وګوري او دهغه په اساس په مارکیټ کي مداخله وکړي:**لکه**

1. دانحصاري کړنو تنظیم کولو لپاره.
2. دمارکیټ دثبات لپاره باید مداخله وکړي.
3. دلومړنیو اړتیاوو درتیا دیقني کولو لپاره باید مداخله وکړي.
4. دهغو سلکونو تنظیم کول او کنترولول چي داسلام له لوري غندل کیږي او داسلامي اوصولو سره په ټکر کي وي.

# اوم فصل

## اسلامي لوی اقتصاد

**داسلام له نظره دلوی اقتصاد تعريف او ساحه** : په اسلام کي لوی اقتصاد دعنعنوي لوی اقتصاد سره دتعريف له لحاظه توپير نه کوي ولي داهدافو له مخي يو له بل سره توپير کوي او په اسلامي اقتصاد کي اهداف دعنعنوي اقتصاد سره توپير لري. که داسلامي اقتصاد تير تاريخ ته وگورو نو له هغه څخه بيلابيلي موخي موندل کيږي لکه :

په دي نړی کي د فلاح ( هوساينه ) ترلاسه کول .

عدل او احسان ترسره کول،

په اقتصاد کي دهرچا دژوند دلومړنيو اړتياوو تضمين کول.

دشتمنيو گردش او ياهم دوران.

امربالمعروف او نهی عن المنکر ترسره کول يعني يعني دمعارف (ښه عمل ترسره کول) او د منکر (بد عمل او بي حيايي ) له منځه وړل.

اقتصادي وده ، دخلکو لپاره دژوند اسانه کول او دبيکاری کمول.

دبي وزلو لاو اړمنو خلکو پالنه او مرسته کول ټول هغه اهداف او موخي دي چي په اسلامي لوی اقتصاد کي په نظر کي نيول سوي دي.

### داسلامي او عنعنوي لوی اقتصاد گډي موخي : اقتصادي وده اوپرمختگ

اقتصادي وده معمولا ديو هيواد دلوی اقتصاد مهم هدف گڼل کيږي او داقتصادي ترلاسه کول په اسلامي او عنعنوي اقتصاد کي توپير نه کوي داقتصادي ودي داندازه کولو واحد کورنی ناخالص توليد دی. يعني کورنی نا خالص توليد او اقتصادي وده هغه اهداف او موخي دي چي په اسلامي او عنعنوي لوی اقتصاد کي گډي موخي دي.

داقتصادي پرمختگ چي ديو هيواد دعمومي هوسايني او رفاه لباره رامنځته کيږي په اسلامي لوی اقتصاد کي بايد داسي وي چي داسلامي ارزښتونو او نورمونو(normative) سره په ټکر کي نه وي او په نتيجه کي يي فلاح ترلاسه سي.

داسلامي لوی اقتصاد دپرمختک لپاره هغه مسايل چي داسلامي اقتصاد سره په ټکر کي نه وي هغه بايد ترسره سي ولي هغه څه چي داسلامي اقتصاد سره په ټکر کي دي هغه بايد لري او له نظره وايستل سي.لکه په عنعنوي اقتصادي پرمختگ کي يادونه سوي چي بايدپه ټولو برخو کي دجنسيت مساوات(نارينه  او ښځينه مساوات ) موجود وي ولي اسلام بيا دجنسيت مساوات مني خو په ځينو برخو بيا جازه نه ورکوي او بايد صرف نظر سي.

**باثباته اقتصاد :** دناخالصو داخلي توليداتو تيټ بدلون، دانفلاسيون او بيکارۍ ټيټه کچه ، متوازن نړيوال تجارت او دپانګي جريان، او دبهرنيو اسعارو دثابت نرخ په معنی دی.

**انفلاسيون** په يو ځانګړي هيواد کي د هغه په ملي اسعارو کي دتوکو او اجناسو دنرخونو دبدلون اندازي ته اشاره کوي. په اسلامي اقتصاد کي دا شی کم دی ځکه په اسلامي اقتصاد کي پيسو ته دشتمنی په نظر نه ګوري ولي په عنعنوي اقتصاد کي دا شی ډير دی ځکه په هغه کي پيسو ته اصلي شتمني په نظر ګوري.

**بيکاري** په يو هيواد کي دټولي کاري قوي فيصدی ته اشاره کوي چي دکار او دندي په پيداکولو کي پاته راغلي دي په داسي حال کي چي دوی ددندي پيداکولو په لټه کي وي.

**دپانګي دجريان توازون** دبهرنيو اسعارو دجريانونو سره دخپلو جريانونو سمون ته ويل کيږي. يعني دسرمايي داخلي جريان او خارجي جريان بايد سره مساوي وي چي دي دپانګي دجريان توازون وايي. او همداشان ديو هيواد دخامو موادو او پخو موادو يعني توليداتو مساوات او توازون ته ويل کيږي چي هغه بايد دانساني منابعو په روزلو سره تر لاسه سي.

**دبهرنيو اسعارو دنرخ ثبات** په عمومي توګه دلويو نړيوالو اسعارو په وړاندي دنسبي ثبات درلودلو ته ويل کيږي.

کچيري دا پورته يادو شويو اهدافو او موخو ته په سمه توګه کار وسي نو يو باثباته اقتصاد رامنځته کيږي ، باثباته اقتصاد هغه اقتصاد ته ويل کيږي چي په هغه کي زيات نوښانات نه وي موجود ، دا ټول هغه اهداف او موخي دي چي داسلامي او عنعنوي لوی اقتصاد تر منځ يو ډول دي او ګډ دي.

## داقتصادي مساوات له مخي ګډي موخيCommon objectives: economic equity

**اقتصادي مساوات :** اقتصادي مساوات عادلانه چلند کولو ته اشاره کوي چي په اقتصادي مارکيټ کي رفاه رامنځته کيږي او په اقتصاد کي شريکيږي او څنګه بيا د ټولني دلږ امتياز لرونکو غړو لړترلږه اړتياوي پوره کيږي.

اسلامي نظام د دوه ډوله کنترولونو په کارولو او پر هغو باندي په تکيه کولو سره د ويش مساوات رامنځته کوي او دهغه تظمين کوي.

- داخلاقي او تنظيمي اقداماتو يو مجموعه لري چي هغه د نابرابری يا نامساواتومخه نيسي لکه دين او ټولنه.
- داصلاحي اقداماتو يوه ټو لګه شتون لري البته په هغه وخت کي چي کله په حقيقت کي نابرابري رامنځته سي او همداشان د عابد، خليفه او امانه رول لوبول هم په اقتصاد کي نا مساواتو او نابرابری مخه نيسي.

**اقتصادي مساوات** : په اسلام کي هغه وخت رامنځته کيږي چي په هغه کي يو اقتصادي واحد (استازی) خپل ځان ديو عابد ، خليفه او امين په حيث وبولي او په اقتصادي فعاليتونه ترسره کړي  په هغه کي داسي فکر وکړي چي له انسانانو سره نسبي ملکيت شتون لري  نو په دي سبب ورسره اقتصادي مساوات رامنځته کيږي.

په داسي حال کي چي په عنعنوي اقتصاد کي داقتصادي مساواتو په برخه کي زيات توپير شتون لري او په هغه کي ځيني افراد زيات شتمن کيږي او ځيني نور بيا تر هغه لا غريبان کيږي ځکه هغوی ځان خليفه او امين نه بولي.

اقتصادي مساوات هغه عامه او ګډه موخه ده چي اسلامي او عنعنوي دواړه اقتصادونه يي د شتون لپاره کار کوي او غوښتنه يي کوي. ولي داچي څنګه لاسته راځي او په کومه وسيله لاسته راځي دا بيا يو له بله سره توپير کوي.

**داسلامي اقتصاد کاري چوکاټ (Framework of Islamic Macroeconomics) :** په اسلامي اقتصاد کي ممکن ځيني برخي او اړخونه له دوديز اقتصاد سره ورته والی ولري ولي وسيلي او ساحه يي يو له بل سره توپير لري. ځکه په اقتصاد کي داسي اړخونه سته چي دوديز اقتصاد هغه ته زياته توجوه نه کوي لکه دريم سکټور ولي اسلامي اقتصاد پر ديم سکټور باندي ټينګار کوي او هغه داسلامي اقتصاد يو اړخ دی. داسلامي اقتصاد عناصر په لاندي ډول دي **Components of Islamic Macroeconomics**

## PUBLIC SECTOR

1. بيت المال : عامه خزاني ته ويل ته ويل کيږي چي په عمومي ډول دذکات پر بنسټ ولاړه ده او هغه د دولتي عوايدو سره نسي ګډيدلای ځکه چي هغه بايد په ځانګړيو کتګوريو وويشل سي .
2. REVENUE SECTOR: دولتي ماليات او دضرورت په وخت کي پورونه اخيستل او د دولت پرمختياييي بوديجه

## PRIVAT SECTOR

1. کورنی :
   - مالداره کورنی
   - غريبي کورنی
2. دتجارت سکتور (تصدی)
   - رسمي تجارت
   - غيري رسمي جارت

## THIRD SECTOR

1. رسمي سکتور : په دي برخه کي خيريه کارونه سرته رسيږي او : خيريه بنستونه، همکاري اتحاديي، کلبونه، وقفونه ( اسلامي وقفونه) پکښي شامل دي.
2. غيري رسمي سکتور: په دي برخه کي هغه خيريه کارونه شامل دي چي په هغو کي دنورو سره په مستقيم ډول مرسته ترسره کوي بغير دکوم امتياز او معاويضي څخه.

پورته سکتورونو ته په کتلو سره داسلامي لوی اقتصاد چوکاټ یو جامع او پراخ کاري چوکات دی چي د دریم سکتور په سبب په هغه دټولني ټولو برخو ته امتیازات ورکول سوي دي پداسي حال کي چي په دودیز اقتصادي چوکاټ کي بیا یوازي عامه او خصوصي سکتور شتون لري او دټولني هغو افرادو ته چي غریب دي تووع نکیږي نږ ځکه هغه یو امع چوکاټ نسي کیدلای.

## Key Concepts of Macroeconomics from an Islamic Perspective

## دلوی اقتصاد کلیدي مفکوري داسلامي لرلید څخه

**دري مهم توپیرونه** چي اسلامي اقتصاد پرهغه باندي ډیر ټینګار کوي او دا دري نقطي دنورو اقتصادونو سره داسلامي اقتصاد هغه مهم توپیرونه هم ښیي په لاندي ډول دي :

- دیو داسي اقتصاد لپاره چي هغه داسلامي اصولو له مخي اداره کیږي تر ټولو مهمه مسله دا ده چي دهغه مالي او پولي پالسیو سیستم باید اصلاح او ورغول سي( چي مطلب یي ددودیز اقتصاد مالي او پولي پالیسیاني دي) او داسلامي اقتصاد له نظره هغه موثره ندي ځکه په هغو کي سود شتون لري.

پولي سیستم دمالي جوړښت سره backward او forward اړیکه لري په دي معنی چي دا دواړه سیستمونه دذکات سره مستقیمه اړیکه لري نو په دي اساس داسلامي اقتصاد له نظره باید اسلامي اقتصاد خپلي مالي پالسیاني ولري چي جامع وي.

- د دیریم سکتور مدیریت باید څنګه ترسره سي : دایلامي اقتصاد یو بل مهم اړخ ددریم سکتور مدیریت او پراختیا ده کوم چي هغه د ازاد بازار داقتصاد سره یو ځای کوي او د ودي ، مساواتو او ثبات اهداف ترلاسه کړي.

په دي برخه باید ځیني رسمي سکتورونه موجود وي کوم چي ددولت له لوري پرمخ وړل کیږي او ځیني نور غیری رسمي سکتورنه هم باید موجود وي چي په رضاکارانه ډول سره ددریم سکتور فعالیتونه مخته یوسي.

- دمساواتو په برخه کي اسلامي اقتصاد دهغو خلکو دژوند ضمانت کوي کوم چي بیوزله دي او دژوند معیارونه یي کم دي او هغه باید ددولت ، انفرادي افرادو او خلکو له لوري تضمین او پوره سي.

## Key Concepts: National Output and Economic Growth

## ملي تولید او اقتصادي وده

داقتصادي ودي لپاره اقتصاد پوهانو ډیري تیوریاني رامنځته کړي دي او دساده موډلونو له لاري یي اقتصادي وده تشریح کړي ده. په دودیز اقتصاد کي چي دودي لپاره کوم موډلونه وړاندي سوي دي تقریبا ټول دسود پر اساس دي او همداشان په هغه کي د دریم سکتور رول او دپولي بازار څخه وتلي فعالیتونه ( outside-money-market activities) په نظر کي نه نیسي. نو له همدي امله په اسلامیاقتصاد کي د ودي پروسه د دودیز اقتصاد سره توپیر کوي.

# Business Cycles

اسلامي  لوی اقتصاد دCounter cyclically  خاصیت لري او دودیز اقتصاد pro cyclically خاصیت لري دي دواړو خاصیتونو ته په کتلو سره لیدل کیږي چي په یوه اقتصاد (دودیز اقتصاد) کي ډیر نوثانات شتون لري او په بل ډول اقتصاد(اسلامي اقتصاد)  کي بیا نوثانات شتون نلري  ځکه په اسلامي اقتصاد کي پانګوني دشتمنیو پر بنسټ ترسره کیږي په داسي حال کي چي په دودیز اقتصاد کي بیا دسود په اساس ترسره کیږي .

## Key Concepts: Inflation

### انفلاسیون

دقیمتونو په عمومي سطحه کي په دوامداره ډول زیاتوالی دانفلاسیون اود قیمتونو په عمومي سطحه کي په دوامداره ډول  کموالی بیا ډیفلاسیون په نوم یادیږي. او یاهم کله چي دقیمتونو سطحه لوړیدل راکمیږي( په انفلاسیوني دوره کي) داسي دوري ته

په دودیز اقتصاد کي دانفلاسیون دوه اساسي لاملونه په ګوته سوي دي:

1. داجناسو او خدماتو په تقاضا کي زیاتوالی
2. داجناسو او خدماتو په لګښت کي زیاتوالی

کله چي داجناسو او خدماتو لپاره تقاضا د اجناسو او خدماتو له عرضي څخه اضافه سي دي ته دتقاضا په سبب رامنځته سوی انفلاسیون وایي.

کله چي دتولیداتو په لګښتون کي زیاتوالی راسي نو دقیمتون دزیاتوالي باعث کیږي او دي ډول رامنځته سوي انفلاسیون ته ' cost-push inflation او یا هم دعرضي د اړخ انفلاسیون ویل کیږي.

## Key Concepts: Government and Economic Policies

### ( دولت او دهغه اقتصادي پالیسی)

دلته څلور اساسي او مهمي خبري شتون لري چي په لوی اقتصاد کي د دولت او دهغه دپالیسیو دندي واضح کوي  .

1. په رقابتي مارکیت او محیط کي اسلامي لوی اقتصاد باید څه ډول چلند وکړي اوڅه ډول واوسي دا دولت او دهغه داقتصادي پالیسیو وظیفه ده .

2. داسي قانوني اقدامات باید رامنځته سي چې دخصوصي او دولتي یا عامه شتمنیو توپیر وکولای سي.
3. دمارکیټ دناکامیو څخه دنظارت کولو دنده ولري او همدا شان دسودپه اساس پور ورکولو او پور اخیستلو مخنیوی وکړي او دسود بدیلونه اقتصادي واحدونو یا استازو ته رامنځته کړي لکه اسلامي صکوک وړاندي.
4. د دریم سکتور لپاره رسمي چوکات جوړول ترڅو په هغه سره دریم سکټور تطبیق کړي. یعني د دولتي چوکات لاندي د دریم سکتور دفعالیتون ترسره کول.

## Key Concepts: Fiscal Policy

**مالي پالیسي :** د دولت دعوایدو او مصارفو له طریقه داقتصادي حالت تر تاثیر لاندي راویستلو ته مالي پالیسي ویل کیږي.

دمالي پالیسي ډولونه او توضیحات پر اقتصادي وده، بیکاري، انفلاسیون او اقتصادي ثبات باندي مستقیم او غیری مستقیم تاثیرات درلودلای سي.

دمالي پالیسي ډولونه په لویه کچه یا زیاته اندازه داقتصادي حالت د ادراه کولو لپاره کارول کیږي تر څو اقتصادي تغیرات او بدلونونه کم کړي او اقتصادي اهداف تر لاسه کړي دولتونه کولای سي چې مالي پالیسي په دوه ډوله تطبیق کړي: discretionary or automatic. چې په discretionary مالي پالسي کي انقباضي مالي پالسي او انبساطي مالي پالسي شاملي دي کوم چي دولت یي غیر نورمال اقتصادي حالتونو کي داقتصادي حالاتو په نظر کي نیولو سره تطبیقوي . او په automatic مالي پالسي کي بیا ساختماني اقدامات شامل دي دمثال په ډول پر شتمنیو باندي مالیه، دا پالسي دولت په نورمال اقتصادي حالت کي تطبیقوي.

## Key Concepts: Monetary Policy

### پولي پالسي

**پولي پالسي :** هغه پالسي ده چي دپیسو دعرضي کنترول او پولي سکتور تنظیمول ددي هدف لپاره چي انفلاسیون کنترول کړي او دتجارت دوران( business cycles ) ثبات ډاډمن کړي. په دودیز اقتصاد کي پولي پالسي دمرکزي بانکونو له لوري دسود دنرخ په ذریعه اداره کیږي.

داقتصاد پولي سیستم په اقتصاد کي دپیسو او کریدیت رامنځته کیدلو جریان اداره کوي. په داسي حال کي چي دپیسو عرضه او تقاضا بیا پولي سیستم جوړوي او دکریډیټ عرضه او تقاضا بیا په اقتصاد کي مالي سیستم جوړوي. یعني کله چي په بازار کي پیسو ته ضرورت وي او پیسي کمي وي مرکزي بانک بازار ته پیسي عرضه کوي او کله چي په بازار کي پیسي زیاتي وي او انفلاسیون موجود وي نو بیا مرکزي بانک پیسي له بازرا څخه راټولوي. البته دا دنده مرکزي بانک دنورو بانکونو په ذریعه سرته رسوي اوږ وسایل یي په ازارد بازار کي عملیات. حداقل ذخیره او دتنزیل نرخ دی.

اسلامي اقتصادي اصول یو داسي مالي سیتم ته اړتیا لري چي دتولیدي ظرفیت سره تړاو ولري کوم چي په حقیقي شتمني باندي ولاړ وي. له همدي امله مالي او پولي سیستمونو ته اړینه ده چي په اقتصاد کي دثبات یقیني کولو لپا ره په ښه توګه تنظیم سي او مالي سکتور ته اجازه ورکړي چي دحقیقي اقتصاد داړتیاوو سره سم وده او پراختیا وکړي.

د دودیزو سیستم پولي پالسي که څه هم اوس مهال پر اقتصادي سیستم باندي حاکمیت لري ولي بیا هم دا پالسي حقیقي اقتصاد ته کار نکوي بلکی اسمي اقتصاد ته کار کوی چي بیلابیل عوامل لري. لکه حکمي پیسي fiat money چي په حقیقت کي شتون نلري او دبانکونو له لوري دپورپه شکل ایجادیږي.

بله مهمه خبره دا ده چي په دودیز اقتصاد کي پیسي دشتمنی په حیث استفاده کیږي ځکه چي په مقابل کي ي سود اخیستل کیږي البته هغه وخت چي کله پیسي په پور ورکول کیږي.

ځیني اقتصاد پوهان وړاندیز کوي چي اسلامي پولي سیاست باید داسي جوړ سي چي دشریعت داصولو مطابق له داسي وسایلو څخه کار واخیستل سي چي دهغو په سبب پولي سیستم دحقیقي اقتصاد( real economy) سره ښه تړاو ولري ولري.

دسرو زرو پیسي، دسرو زرو معیاري پیسي او یا هم full reserve banking system رامنځته کول. او همداشان دشریغت سره مطابقت درلودونکو مالي وسایلو رامنځته کول چي دحقیقي سکتور سره تړاو ولري.

## Key Concepts: Policies for the Third Sector

## (د دریم سکتور لپاره پالیی)

په دودیز اقتصاد کي د دریم سکتور فعالیتونه یا دعامه سکتور داقتصاد دیوي برخي په توګه تشریح کیږي او یا خو دغیري اقتصادي فعالیتونو په توګه بیخي له پامه غورځول کیږي.

په اسلامي اقتصاد کي خصوصي سکتور د دریم سکتور له لاري داړمنو خلکو سره دمرستي په برخه کي فعالیتونه ترسره چي په غیری رسمي شکل دزکات، ادقات او خیر یه موسیسو له لاري، او په رسمي شکل د ( وقف، نادولتي موسیسو، او خیریه بنسټونو له لاري) او همداشان د سیاسي او مذهبي ګوندونو له لوري درفا پروګرامونه ترتیبول.

دریم سکتور باید ددولت له لوري نظارت او تنظیم سي تر څو هغه اهداف په لاس راوړي کوم چي دتولني دهغو وګړو داړتیاوو پوره کول دي چي هغوی نسي کولای دبازار او مارکیت څخه خپلي اړتیاوي پوره کړي یعني دغریبانو اوبیوزلو خلکو اړتیاوي پوره کول.

ددي سکتور تقاضادبي وزلو خلکو دنفوس په اندازي پوري اړه لري: په دي برخه دولت ته اړتیا لیدل چي خپل رول ولوبوي.

- کچیري کسر شتون ولري نو هغه په د اداري او پراختیایي بودیجي څخه پوره کوي.
- کچیري مازاد surplus شتون ولري نو دولت باید داسي پالیسي له ځان سره ولري چي دا مازاد په اقتصاد کي دبیوزله خلکو په ګټه وکاروي او له هغه څخه ګټه پورته کړي.

## اتم فصل

## Fiscal policy and Zakat

## (مالي پالسي او زکات)

مالي پاليسي : د دولت دعوايو او مصارفو کارول دټولني سره دمطلوب لوی اقتصاد داهدافو په ترلاسه کولو کي مرسته کوي. ددولت دمصارفو په کچه او ماليه کي عمدي (deliberate) يا اتومات بدلونونه موجود دي ترڅو دمجموعي تقاضا او اقتصادي فعاليتونو کچه وهڅوي.

**Fiscal Policy: Conventional Versus Islamic:** په دوديز اقتصاد کي دمالي پاليسۍ وسايل عوايد او ماليات دي ولي په اسلامي اقتصاد کي بيا زکات او (عوايد او ماليات) د مالي پاليسۍ دوسايلو په حيث کارول کيږي. خو دمالیي داخيستلو پر سر اسلامي اقتصاد پوهان مختلف نظرونه لري.

**Goals of Fiscal Policy (دمالي پاليسۍ اهداف):**

1. **اقتصادي وده.**
2. **Employment**
3. **انفلاسيون**
4. **اقتصادي ثبات**
5. **دعوايدو او شتمنيو مساوي ويش**
6. **Universal brotherhood and justice**

**Instruments of Fiscal Policy: 1. Government Expenditure (دمالي پاليسۍ وسايل 1. د دولت مصارف)**

**په دريو برخو ويشل سوي دي: چي جاري مصارف ، انکشافي مصارف او راتلونکي مصارف.**

په تاريخي ډول پخوا په اسلامي اقتصاد کي د دولت مصارف محدود وو ولي څنګه چي داسلامي ټولني اړتياوي زياتيږي ورسره ځيني دندي هم ډيري اړيني سوي چي بايد يي دولت ترسره کړي نو ځکه د دولت مصارف هم زياتيږي.

(2004) اقبال او خان : د دولت مصارف په دريو کټګوريو ويشي :

- لوی دولتي مصارف لکه ( دفاع، عدالت، قانون اونظام)
- په اوسنيو شرايطو کي اړين مصارف لکه (عامه اجناس)
- دخلکو له خوا دټاکل سويو فعاليتونو مصارف.

دولتي مصارف: په اسلامي اقتصاد کي د دولت مصارف باید دضروریاتو، حاجاتو، او تحسینات په نظر کي نیول سوي وي څنګه چي داسلام احکام عمومي دي نو دولت هم پکي شامل دی او هغه باید داعتدال په نظر کي نیولو سره مصارف ترسره کړي. او په دي اړه زیات ایتونه شتون لري.

**Instruments of Fiscal Policy: 2. Taxation (دمالي پالیسی وسایل 2. مالیات)**

**مالیه** : مالیه هغه مالي محصول دی چي د دولت له خوا پر مالیه ورکونکو باندي وضع کیږي تر څو دمالیاتوپه مقابل کي مختلف مصارف تمویل کړي.

**دمالیاتو موخي :**

- دزیان رسوونکو توکو محدودول کچیري زیات مصرف کیدل لکه تمباکو او الکول .
- دکاري ځواک دبیا ویشلو لپاره: دمثال په ډول کارګران هڅول چي په یوه صنعت کي له کار څخه بل صنعت ته ولاړ سي.
- دعاید دنابرابری دکمولو لپاره : مالیات په مختلفو بڼو وضع کیږي او مختلف ځانګړي اهداف تعقیبوي .

**Guiding Principles of Government Expenditures 1.Moderation in budgeting**

په بودیجه کي د راتلونکو اتک سویو مصارفو لپاره دولت وړاندوینه کوي او د دي اټکلي مصارفو دپوره کولو لپاره د اړتیاوړ مالیاتو دلوړولو او ترلاسه کولو لپاره لاري پیدا کوي.

په اوسني عصري ټولنو کي دولتونه دخپل وسایلو څخه بهر مصارف ترسره کولو تمایل لري او دمنابعو دمحدودیت سره سره بیا هم زیات مقدار مصارف ترسره کوي چي دا کار په حتمي ډول دبودیجي دکسر سبب کیږي. ددي دلیل دل دی چي دوی د اقتصادي ودي لپاره ډېر مصارف ترسره کوي.

دا کسر د داخلي او بهرنیو پورونو او اسعارو دچاپ له لاري تمویل کیږي چي دا کار بیا د انفلاسیون لامل کیږي او دبحران او اقتصادي فشار رامنځته کیدو سبب کیږي.

په اسلامي اقتصاد کي دولتي مصارف دموجده او شته عوایدو سره سم ترسره کیږي او په تیوریکي توګه دخطرناکه تمایلاتو په وړاندي یو ډول محافظت چمتو کوي کوم چي په عصري بودیجه کي د درنوپورونو، انفلاسیون او کسرونو سره تړاو لري.

په دي اړه دقران الکریم دلیل دا دی ژباړه ( ډیر بخل مه کوی او نه هم دومره لاس خلاص نیسی چي بیا تاسو دافسوس سره مخ کیږئ)

**<u>Guiding Principles of Government Expenditures .2Priorities in Spending</u>**

په مصارفو کي لومړیتوبونه : دژوند په ټولو برخوو کي دمصالح ساتل دي کوم چي دعامه لګښتونو او سرچینو په ښه ډول اداره کولو سره ترسره کیدای سي. او دا مصالح یا عامه ګټي په اسلامي اقتصاد کي په دریو برخو کي طبقه بندي سوي دي : ضروریات(اړتیاوي)، حاجات(تکمیلوونکي یا اسانتیاوي)، او تحسینات( صالحات، زیورات یا عیش او ارام) .

دعامه مصارفو په اداره کولو کي يو مسلمان دولت بايد داډ ترلاسه کړي چي اړتياو ته تل داسانتياوو په مقابل کي لومړيتوب ورکول کيږي او اسانتياوي بيا د تحسيناتو په مقابل کي لومړيتوب لري.

**Government Revenue: Taxation (دولتي عوايد: ماليات)**

د دولت دعوايدو دوديزي سرچيني دقران الکريم او نبوي احاديثو څخه اخيستل سوي دي : زکات، عشر، حبه، وقف. يې، خراج، جزيه، صدقه، خمس، پور اونوري هغه سرچيني دي چي په قران الکريم او نبوي احاديثو کي ذکر سوي دي چي په هغو کي ځيني لغوه سوي دي او ځيني يي پاته دي ولي محدود دي چي ددي په اړه بحثونه رامنځته کوي چي ايا عصري اسلامي دولتونه حق لري چي د پورته يادو سويو عايداتي منابعو پرته بل ډول ماليه وضع کړي.

د دوديزي سرچيني چي په قران الکريم او نبوي احاديثو کي تاکل سوي دي په لاندي ډول دي:

يې: داسلامي غزاووپه وخت کي چي کله دښمن بغير له جنگ څخه تسليم شو کوم غنيمت چي له هغو څخه په لاس راوړل کيدی هغه ته يې ويل کيدل.

خمس : کله چي به د دښمن څخه غنيمت په لاس راوړل سو نو دهغه څخه څلور برخي پر لښکر باندي ويشل کيدي او پنځمه برخه يي بيت المال ته ځي او ددولت په واک کي ورکول کيږي.

خراج: يو ډول ماليه ده چي دار السلام کي  پر زراعتي ځمکو باندي ايښودل کيده او اخيستل کيده.

جزيه : هغه ډول ماليه چي کله حربي کفار په اسلامي ساحو کي د ذمي کفارو په حيث ژوند کوي بايد يو څه ا ندازه ماليه ورکړي چي دي ته جزيه ويل کيده  او اوس مهال هغي ته د وارداتو باندي ماليه اخيستل ويل کيږي البته په دوديز اقتصاد کي.

عشر: يو ډول تجارتي او سوداگريزه ماليه وه چي دنورو هيوادونو پر تاجرانو په وضع کيدل او يا به هم معمولا لس فيصده ماليه وه چي پر تجارت باندي وضع کيدل.

**د ماليي د وضع کولو په اړه د اسلامي عالمانو دنظر اختلاف:**

دماليي اخيستلو پر سر اسلامي اقتصاد پوهان او عالمان يو له بل سره دنظر اختلاف لري ځيني عالمان د زکات په شتون کي دماليي اخيستل ښه نه بولي او ځيني نورو بيا په احاديثو سره استدلال کړی چي بايد ماليه واخيستل سي.

ځينو پخوانيو اسلامي اقتصاد پوهانو استدلال کړی دی چي دزکات پرته پر شخصي ملکيتونو باندي اجباري دولتي (charges) اچول غيری عادلانه او غيری اسلامي دي څکه رسول الله په خپل وخت کي بغير دزکات څخه هيڅ ډول ماليه نده وضع کړي . د دودی دليل د نبي کريم احاديث دي چي له هغو څخه يي يو دابن ماجه : (کله چي زکات ورکوي  بايد هغه څه ورباندي وسي چي ته يي غوښتنه لري) او بل ځای

يي په ابو داود کې نقل سوی دي چې فر مايي: ( څوک چې ماليه اخلي او وضع کوي يي هغوی جنت ته نسي تللای)البته په غيری عادلانه شکل سره.

ولي نور اقتصاد پوهانو بيا استدلال کړی دی چې زکات دټولنيزو اقتصادي اهدافو دپوره کولو او لاسته راوړلو لپاره کفايت نه کوي دهغوی دليل دادی چې چې اسلامي اقتصاد ممکن دسرچينو او منابعو نور ځای پر ځای کولو ته اړتيا ولري تر څو وکولای سي چې دټولني درفا لپاره هغه عامه اوټولنيز اجناس اماده کړي کوم چې خصوصي سکتور ته نسي پريښودل کيدای.

بل مهم دليل چې دا ډول علما يي وړاندي کوي هغه دادی چې زکات يوازي مسلمانان ورکوي ولي په اسلامي ټولنه کي غيری مسلم افراد هم ژوند کوي هغوی بايد ماليه ورکړي، د عالمان زکات او نور اړونده عوايد په ماليه کي نه حسابوي او هغه له ماليي څخه بهر بولي.

ډير عالمان په دي اړه موافق دي چې د مصالحه پر اساس ماليه وضع کيدای سي او دوی دعوايدو لپاره نوري عصري سرچيني ذکر کړي دي چې هغه په لاندي ډول دي

- دمنرالونو او کانونو څخه دعوايدو ترلاسه کول.
- دصکوک او داسعارو دصادرولو له لاري د دولت ترلاسه سوي ګټي.
- دخدماتو څخه ترلاسه کيدونکی فيس.

### Islamic Guiding Principles of Taxation (د ماليتاتو لپاره داسلامي لارښود اصول او شرايط)

- دقران الکريم په اساس دزکات عوايد يوازي دځانګړيو ډلو لپاره ( هغه اته ډلي چې په قران کي يي يادونه سوي ده) مصرف کيدلای سي په داسي حال کي چې اسلامي حکومت يو ډول متحرک رولونه لري چې په هغه کي : ملکي اداري، داخلي قانون اونظم، بهرنی دفاع، د اړمندو کسانو لپاره د اساسي اړتياوو چمتو کول د اسلام دتبليغ دندي دي چې هغه پرته دماليتاتو نسي پوره کيدلای. او يا هم دمقاصد شريعه لپاره زکات نسي استعماليدلای.
- عصري اسلامي دولتونو دټولنيزو اقتصادي بدلونونو (socio-economic changes )له امله خپل فعاليتونه پراخه کړي دي کوم چې دساينس او ټيکنالوژۍ په برخه کي د پرمختګ له امله رامنځته سوي دي نو ځکه د دولتونو دمخ پر ودي مسووليتونو پوري اړوند د لويو مصارفو په پوره کولو کي دماليتاتو اړتيا زياته سوي ده.
- د اسلامي فقهي د اصولو په اساس هر هغه څه چې داسلامي امت د رفاه او هوساينې لپاره مصرف سوي وي دمنلو وړ دي په دي شرط چې داسلامي اصولو څخه پکي سرغړونه نه وي شوي نو په دي توګه يو اسلامي حکومت کولای سي چې د زکات د عوايدو دبشپړولو لپاره ماليه وضع کړي.

### Zakat and Fiscal Policies (زکات او مالي پاليسي)

ډير اسلامي اقتصاد پو هان زکات ته په اسلامي اقتصاد کي د مالي پاليسۍ ديوي وسيلي په نظر ګوري ولي سره لدي زکات په هره برخه کي د مالي پاليسي د وسيلي په توګه نسي کاريدلای او يا هم دماليي په توګه نسي کارول کيدلای ځکه چې د دا لاندي عوامل موجود دي:

- زکات یو ډول دیني او الهي وجیبه ده چې د اقتصادي وضعیت په نظر کي نیولو پرته هر وخت اسلامي دولت کولای سي چې هغه راټول کړي ( البته چي کله مال او شتمني د زکات نصاب ته ورسیږي) . بنسټ یي الهي حکم دی چي په قران الکریم کي ذکر سوی دی.په داسي حال کي چي د مالیي په څیر مالي وسیله د انسان له خوا جوړه سوي ده.
- دزکات نصاب او نرخونه ثابت دي په داسي او دیوي ټاکلي پالیسي د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره نسي کارول کیدلای.
- او هغه اداري او ډلي چي په هغو کي دزکات عواید کارول کیدای سي روښانه او معلومي دي.

**Impact of Zakāh on Consumption (د زکات تاثیر پر استهلاک باندي)**

(Metwally, 1983; Iqbal, 1985) په وینا داسي انګیرل کیږي چي زکات په اسلامي اقتصاد کي استهلاک او لګښتونه زیاتوي.

په اسلامي اقتصاد کي استهلاک له تیوریکي پلوه لوړ او زیات دی ځکه چي :

- زکات نه یوازي دهغه شتمنیوڅخه راټولیږي چي د ودي وړتیا ولري بلکي دهر ډول شتمنیو له امله چي هغه دنصاب حد ته رسیدلي وي راټولیږي . د هغو خلکو شمیرچي زکات ترلاسه کوي دهغو کسانو په نسبت چي زکات ورکوي نسبتا لږ دی. کچیري دا ډول افراد او خلک شتون ولري چي دهغوی عاید له ټاکل سوي نصاب څخه ډیر وي، زکات هر وخت دهیواد اقتصادي شرایطو ته پام سره دولت ته ورکول کیږي او دهغه له لوري راټولیږي.
- دهغو کسانو د (MPC) لږ تمایل چي زکات ترلاسه کوي دهغو کسانو په پرتله خورا لوړ دی کوم چي زکات ورکوي.
- د عاید په هره کچه کي د پانګوني تشه په اسلامي اقتصاد کي د زکات له امله کمیږي دا ځکه چي په اسلامي اقتصاد کي د (average and marginal propensities) لګښتونو کچه په اسلامي اقتصاد کي نه کمیږي نو له همدي امله زکات د عاید په ټولو برخو کي دعوایدو او پانګوونو تر منځ د واټن په کمولو کي مرسته کوي.

**Functions of Zakāh in Fiscal Policy (په مالي پالیسي کي د زکات دندي):**

1. **Zakāh and Allocative Efficiency (زکات او د تخصیص موثریت):** د هغه توکو او خدماتو دمصارفو دزیاتوالي باعث کیږي چي مارکیت یي په کارولو کي پاته راغلی دی لکه (دغریبانو لپاره اجناس او خدمات). او همداشان کیدای سي هغه اجناس او خدمات تهیه کړي دکومو په چمتو کولو کي چي بازار یا مارکیټ پاته راغلی وي.
2. **Zakāh and Redistribution of Income (زکات او دعواید بیا ویش):** دټولني دهغو افرادو څخه چي دعاید په لحاظ لوړ وي د عاید انتقال د ټولني هغه افرادو ته چي دټیټ عاید درلودونکي وي د منابعو بیا ویش بلل کیږي او هغه دزکات په وسیله پوره کیدلای سي.
3. **Zakāh and Stabilisation (زکات او ثبات):** زکات د ثبات راوستونکي خاصیت لري او کولای سي چي ثبات راولي.
4. **Zakāh and Economic Growth ( زکات او اقتصادي وده) :**

**Zakāh Versus Tax (زكات د ماليي په وړاندي):**

**دماليي او زكات تر منځ توپير**

| ماليه | زكات | |
|---|---|---|
| د دنيوي چارو د موخو او اهدافو لپاره ده | د زكات موخي او اهداف دشريعت لپاره دي | موخي او مقاصد |
| ملي وجيبه او وضيفه ده | زكات وركول يو ديني فريضه او وجيبه ده | Payment يا تاديه |
| ټول هغه اتباع چي دماليي وركولو توانايي ولري دماليي وركونكي دي | زكات هغه څوک او مسلمان وركوي چي مال يي نصاب ته رسيدلى وي | Payersوركونكي |
| ماليه نسبي اجباري وركړه ده ځكه په ځينو حالاتو كي يي دولت معافوي | زكات اجباري وركړه ده | اصول |
| اندازه يي متحويله ده او كله دولت په هغه كي تغير راوستلاى سي. | اندازه او مقدار يي دقران الكريم په اساس ثابت دى .او دولت په هغه كي تغير نسي راويستلاى. | اندازه |
| دمصرف تعين يي ندى معلوم او دولت حالاتو ته په كتو سره هغه تعينوي. | دمصرف تعين يي په قران الكريم كي سوى دى. | دمصرف تعين |
| د ماليي نصاب د دولت له لوري ټاكل كيږي | د زكات نصاب په شريعت كي معلوم سوى دى | نصاب |
| ماليه دنامعلوم وخت لپاره ده. | پر ټاكلي نصاب چي كله كال تير سي . | وخت |
| عايدات او نور..... | سره زر، سپين زر حيوانات او نور دي ته ورته شيان | دوضع كيدو اسباب |
| دولتي اداري يي راټولوي. | محتسبين يي راټولوي | ر اټولول |
| | | |